# د اوبو حقوق

## د افغانستان پرکرنیزو اوبو د حاکم قانوني چوکاټ ارزونه



UNAMA

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د مرستې ماموریت یوناما**

اکتوبر 2016 - د قانون د حاکمیت څانګه

دراپورلنډیز ........................................................................................................................ 1

دافغانستان په اقتصادي وده کې د اوبو ځانګړتیاوې ..................................................................... 3

لف. د اوبو کمولی کرنیزې ودې مخه نیسي ................................................................................ 3

ب. د نړیوالو اوبو د وضعیت، کرنیزې پرمختیا مخه نیسي ............................................................. 4

ج. د اوبو سکتور بیا رغونه یوه مهمه لومړیتوب دی ...................................................................... 5

د. واو د ځانګړو قوانینو په اړه نیست ........................................................................................ 6

الف. د افغانستان اساسي قانون .................................................................................................. 6

ب. مدون قوانین ...................................................................................................................... 6

١. مدني قانون ......................................................................................................................... 6

٢. د اوبو قانون ........................................................................................................................ 7

لف: د اوبو سرچینو د مالکیت اړه د ځمکې مسایل .ره ................................................................. 7

ب.له اوبو نه د ګټې اخیستنې په اړه د اجازه لیک د صادرولو بهیر ................................................. 9

ت.د سرغړونکو په اړه جزایي مجازات ........................................................................................ 10

ث. د شخړو د حل تګلاره ........................................................................................................ 10

ج. اسلامي قانون ..................................................................................................................... 13

د.عنعنوي دودونه او فعالیتونه .................................................................................................. 13

III. د اوبو د شخړو ماهیت ......................................................................................................... 15

IV. د اوبو د شخړو په اړه د قانوني چوکاټونو اغېزمنتوب: ............................................................. 17

لف: د اوبو د قانون اداري چوکاټ په بشپړه توګه نه دی عملي شوی: ............................................... 17

ب: د اوبو د قانون د اداري چوکاټ پلې کیدو سربېره، تشې به پاتې شي ........................................... 18

ج: د ځګکو دوام درمبې باوری، د شخړو د حل درسمي میکانیزمونو په لارکې خنډ ده ........................... 19

د: د شخړو د حل دودیز میکانیزمونه له درناوی څخه برخمن خو اغېزمنې ورې دي ............................. 20

هـ: پایله او وړاندیزونه: .......................................................................................................... 21

پلیلیکونه .................................................................................................................................. 23

## د رپوټ لنډيز

"اوبه د افغانستان د خلکو د ژوند ماده ده چې نه يوازې د ژوندون لپاره ، بلکه د هيواد د اقتصاد لپاره چې په دوديزه توګه د کرنې سره تړلې دی ، حياتي ونډه لري."[1] د افغانستان کابو ۸۰ سلنه خلک خپل معيشت د کرنې له سکتور څخه لاس ته راوړي."[2] او کرنه ، په افغانستان کې د ودې له اصلي سکتورونو څخه يو دی".[3]

خو د تيرو څو لسيزو جګړې ، ورځ په ورځ خرابيدونکي زيربناوې او د اوږدې مودې وچکالۍ ، د کرنې د سکتور د ودې مخه نيولې ده.[4] د کرنې پرمختيا ، په هر کال ، تر ډيره حده د هوا پر حالاتو تړلې ده.[5] د کرنيزې اوبه ډيره برخه (۸۲ سلنه) د ځمکې له سطحې اوبو څخه لاس ته راوړل کيږي چې زياتوالی او يا کمښت يې په اورښتونو او د واورو په ويلې کيدو سره تړلی وي.[6] پاتې ۱۸ سلنه برخه ، د ځمکې لاندې سرچينو څخه تامين کيږي چې په ډير چټکۍ سره مخ په کميدو دي.[7]

د اوبو د طبيعي تامين پر لار شته خنډونه ، په جوړښتونو کې د ناوړتيا له کبله چې د اوبو د سرچينو په مديريت او له دغو سرچينو څخه د کرنې لپاره په پراخه پيمانه په ګټه اخيستنې کې پاتې راغلي دي ، لا زياتيږي.[8] د څو کلونو راپدې خوا جګړې ، د افغانستان د اوبو لګولو د پيړيو پخواني د مراقبت او ساتنې سيستمونه له منځه يوړل او يا يې ګډوډ کړل ، چې د وړتيا د کميدو پر لامل او د کرنې د سکتور د اقتصادي پرمختيا پر لار خنډ وګرځيدل.[9]

د کرنيزې پرمختيا د ملاتړ لپاره د اوبو تقاضا ، د اوبو پر هغو حقوقو د شخړو لامل ګرځي چې د افغانستان د اساسي قانون ، مدون قوانين ، شرعي قانون او دوديزو رواجونو او کړنو په واسطه تضمين شوي دي. په دغو شخړو کې خطر ډيره جدي وي ځکه ډيری کليوالي ټولنې د اوبو د اعتبار وړ سرچينو ته پر لاسرسۍ تړلې دي تر څو خپل فصلونه وکري او د خپلو څارويو خوراک برابر کړي ، چې د دوی ژوند او معيشت ورسره تړلی دی.[10]

په افغانستان کې د دغو شخړو د حل لپاره ، له رسمي او غير رسمي وسايلو څخه کار اخيستل کيږي. د اوبو قانون چې په ۲۰۰۹ کې نافذ شوی ، د يوه پيچلی مقرراتي رژيم وړاندوينه کوي چې د حکومتي وزارتونو له خوا کنټرول کيږي او په کې د اوبو سيمه ايز ګټه اخيستونکي پراخه ونډه لري. دغه رسمي ميکانيزم ، د اوبو د حقوقو په اړه د دوديزو رواجونو او کړنو ، د ميرآب د متداوم اختيار او په ټولنه کې د هغه لپاره درناوي سره په ګډه بشپړ کيږي.

په ۲۰۱۵ کال کې د يوناما د قانون د حاکميت څانګه ، يوه ساحوي څيړنه پيل کړه تر څو د شخړو د حل و فصل لپاره د دغه ميکانيزم اغيزمنتوب وارزوي. دغه راپور ، د يادې ساحوي څيړنې پايلې په لنډه توګه بيانوي او کرنيزې اوبو ته د لاسرسۍ په اړه د شخړو د حل لپاره داسې سپارښتنې وړاندې کوي چې شخړې ، بې له دې چې تاوتريخوالی ته واوړي ، په خپل وخت سره حل شي. د يادې څيړنې يوه مهمه موندنه دا ده چې د اوبو د قانون د هر اړخيز مقرراتي طرحې سربيره ، د اوبو ګټه اخيستونکي ، په دوامداره توګه ، د شخړو د حل لپاره په ځانګړې او يا لږ تر لږه په عمده توګه پر سيمه ايز ميرآب تکيه کوي. دشخړو د حل لپاره د رسمي او غير رسمي ميکانيزمونو څخه د ګټې اخيستنې تر منځ د اختلاف څو لاملونه دي:

- پیچلی اداري جوړښت چې د اوبو په قانون کې وړاندوینه شوی ، تر اوسه ، په بشپړه توګه نه دی عملي شوی.
- د اوبو د قانون په چوکاټ کې د پام وړ تشې ؛ په ځانګړې توګه ، په دغه قانون کې د ناتعریف شویو رواجونو او کړنو شمولیت ، د بیا کتنې خو اړخیز پړاوونه ، او له اوبو د ګټې اخیستنې د لومړیتوب په اړه د مدني قانون سره احتمالي متضاد احکام ، موجودې دي.
- خلګ په دې باور دي ؛ سم یا ناسم ، چې عدلي او قضایي ارګانونه ، د هیواد تر ټولو ډیر فاسد بنسټونه دي.

برسیره پر دې چې د سروې شویو کسانو اکثریت د شخړو د حل د غیر رسمي میکانیزمونو څخه رضایت څرګند کړی وو ، د مقرراتو او کړنو په اجراآتو کې  د شفافیت او استقامت نه شتون ، اندېښنې موجودې دي.  د دودیزې حقابې په اړه د ځانګړو تګلارو نه شتون ، د بهرنیو اغیزو او فشارونو په وړاندې د شخړو د حل غیر رسمي میکانیزمونه کمزوري کوي. دغې اندېښنې ، په ځانګړې توګه د ښځو او ماشومانو په محرومو ډلو کې چې د افغانستان په دودیزه او نارینه برلاسې ټولنه کې یې غږ په عمومي ډول نه اوریدل کیږي ، ډیرې دي.

د دې اندېښنو د هوارۍ او د حقابې په اړه د شخړو د حل د تطبیق قانوني چوکاټ د ملاتړ لپاره لاندینۍ سپارښتونه باید په پام کې ونیول شي:

- د اوبو د قانون اداري جوړښت ، څرنګه چې د اوبو په قانون کې وړاندوینه شوې ، په ټولو سیندنیزو حوزو کې دشوراګانو ، فرعي شوراګانو ، له اوبو د ګټه اخیستونکو ټولنو په جوړولو سره دې په بشپړه توګه عملي شي.
- د اوبو د چارو مدیریت عالي شورا ، چې د قانون له مخې ، د اوبو د سرچینو د همغږۍ او تطبیق د پروګرامونو د سمولو په موخه جوړه شوې ، په مسوولو وزارتونو او ادارو کې د اوبو د مدیریت په اغیزمن کولو کې له خپل صلاحیت څخه کار واخلي.
- همدا راز ، د شخړو د حل بهیر او وروسته ، د عدلي او قضایي بنسټونو له خوا احتمالي بیاکتنه دې هم ساده او اغیزمنه کړای شي تر څو اداري پریکړې یې له دې چې د فصل وده او یا ټولول اغیزمنه کړي ، تطبیق شي. موقتي امرونه او د مرستې بنه په دې ډول ترسره شي تر څو ، د حقابې په اړه د شخړو په حلولو کې ځنډ ، د فصلونو د ضایع کیدو سبب و نه ګرځي.
- د هغو کسانو لپاره چې له حقابې څخه یې سرغړونه کړې ، د زیان د جبران په اړه د داډ تر لاسه کولو لپاره ، اداري او یا قضایي چارواکي دې د مستقیمو او یا غیر مستقیمو زیانونو  مالي جبران په غاړه واخلي او د سرغړونې له امله د ضایع شویو فصلونو جبران دې د بازار د بیې پر بنسټ وشي.
- د لازیاتې روڼتیا د ودې په موخه ، د حقابې په اړه دودیز رواجونه او کړنې لکه "د حقابه تقسیمات" ، د اداري بنسټونو ، محکمو او میرآب د رسمي او غیر رسمي پریکړو د یوه نقل سره ، له اوبو ګټه اخیستونکو لپاره د ولایاتو او ولسوالیو د کتابتونونو او یا د انټرنټ له لارې میسر شي.

## افغانستان په اقتصادي ودې کې د اوبو حیاتي ونډه

د افغانستان په پرمختیا او د خلکو په هوساینه کې د اوبو اهمیت له مبالغې تشه خبره ده. د ملګرو ملتونو سازمان د خوراک او کرنې اداره ( اف اې او) په دې نظر ده: "اوبه د افغانستان د خلکو د ژوند ماده ده چې نه یوازې د ژوندون لپاره ، بلکه د هیواد د اقتصاد لپاره چې په دودیزه توګه د کرنې سره تړلی دی ، حیاتي ونډه لري. "[11] همدا راز ، د افغانستان دولت داسې وایي: " د اوبو او کرنې تر منځ اړیکه ډېره ښکاره ده ؛ اوبه ، د اوبو لګول شویو سیستمونو او د للمي کرنې لپاره اړتیا ده او همدا راز د څارویو او مالدارۍ لپاره هم ډېره مهمه ونډه لري."[12]

کرنه د هیواد له اصلي اقتصادي محرکونو څخه یوه ده. بیلابیلې څېړنې ښیي چې "د افغانستان کابو ۸۰ سلنه وګړي ، خپلې معیشتي اړتیاوې د کرنې له سکتور څخه لاس ته راوړي."[13] په کلیوالي سیمو کې ، چېرې چې د هیواد ۷۵-۸۰ سلنه خلک اوسیږي ، کرنه ، په ځانګړې توګه مهمه ونډه لري.[14] کرنه ، د افغانستان د ۳۲ سلنه ښځو او ۶۸ سلنه نارینو لپاره [15] چې په فعاله توګه د افغانستان په اقتصادي وده کې ونډه لري ، د اقتصادي ژوند له اساسي سرچینو څخه ده.[16]

په ټولیزه توګه ، له باغدارۍ او مالدارۍ څخه لاس ته راغلي کرنیز محصولات (بې له غالۍ او فرشونه چې له وړیو څخه جوړیږي) د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ په لړ کې د افغانستان د قانوني صادراتو ۷۵ سلنه وه.[17] همدا راز ، په ۲۰۱۰ [18] کې قانوني کرنه ، د ناخالص کورنیو تولیداتو ۳۰ سلنه او په ۲۰۱۴ [19] کې د ناخالصو کورنیو تولیداتو کابو ۲۴ سلنه جوړوه.

په ناخالصو کورنیو تولیداتو کې د کرنې د سکتور په ونډه کې د ټیټوالی سربېره ، دغه سکتور د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د کار د پیدا کولو او د اقتصادي اغیزې ډېر ظرفیت لرونکي سکتور پاتې شوی دی.[20] سربېره پر دې ، د څو لسیزې جګړو ، د زیربناوو ناوړه حالت او دوامداره وچکالۍ ، د کرنې سکتور د ودې مخه نیولې ده.[21] د اقتصادي پرمختیا د لومړیتوبونو د طرحې پر مهال د حکومت دا موندنه وه چې: "د څو لسیزې ټولنیزې او سیاسي بې ثباتۍ ، سیلابونه ، دوامداره وچکالۍ ، د اوبو خراب او پخواني زیربناووې ، بې ثباته امنیت ، د اوبو په حیاتي زیربناوو کې د پانګونې په وړاندې بې تفاوته تګلاره ، د اوبو د سکتور د ودې په وړاندې خنډونه دي."[22]

دغه راپور به لومړۍ د افغانستان د کرنیزې پرمختیا په وړاندې ابتدایي خنډونه وڅېړي: د اوبو کموالی او د لېږد له کاره لویدلي سیستمونه.[23] وروسته ، دغه راپور به هغه خنډونه وڅېړي چې د اوبو لګولو لپاره اوبو ته د لاسرسۍ پر سر د شخړو لامل کیږي. په رسمي او غیر رسمي وسیلو د دغو شخړو د حل لپاره د افغانستان د قانون د ظرفیت سیستم به د راپور په وروستۍ برخه کې تر بحث لاندې ونیول شي.

### الف. د اوبو کموالی د کرنیزې ودې مخه نیسي

بر سیره پر دې چې په افغانستان کې په نسبي ډول د اوبو پراخې سرچینې بهیږي ، په هر کال کې کرنیزه وده تر ډېره حده ، د هوا په حالاتو اړه لري.[24] "په ژمي کې (د سلواغې له میاشتې څخه د ورې تر میاشتې پورې) شاو خوا ۵۰ سلنه اورښت کیږي چې د دغه اورښت ډېره برخه ، د هیواد د مرکزي حوزې په غرنیو سیمو کې د واورې اورښت دی. د اورښت دیرش سلنه د اورۍ په فصل (د د غویۍ د میاشتې څخه د چنګاښ تر میاشتې) کې کیږي. د پسرلي او دوبۍ په لړ کې چې د حرارت درجه لوړیږي ، د واورې د ویلې کیدو له امله د اوبو جریان په افغانستان کې د کرنې لپاره ډېر حیاتي او مهم دی."[25] کله چې د دغو څو میاشتو په لړ کې واوره ویلې کیږي او د دغو اوبو (د واورې له ویلې کیدو څخه لاس ته راغلې اوبه) جریان پای ته رسیږي ، د کال په پاتې میاشتو کې د اوبو قلت پیدا کیږي."[26] د هوا په حالاتو دې شان تړاو ، په افغانستان کې د کرنې سکتور "د چاپیریال د اغیزو په وړاندې سخت کمزوری کوي ".[27]

د کرنیزو اوبو ډیره برخه (۸۲ سلنه) د ځمکې له سطحي سرچینو څخه لاس ته راځي[28] په داسې حال کې چې پاتې ۱۸ سلنه برخه د ځمکې لاندې سرچینو څخه تامین کیږي.[29] دوامداره وچکالۍ او د اورښتونو په کچه کې ټیټوالی ، د هیواد کروندګر ، په ځانګړې توګه ، د سویلي او شمالي حوزو کروندګر اړ ایستلي چې د خپلو کرنیزو ځمکو د اوبولګولو لپاره په پراخه پیمانه ، د ځمکې لاندې اوبو څخه کار واخلي.[30] کروندګر ، د ځمکې لاندې اوبو څخه د چینو ، کاریزونو ، عادي او ژورو څاګانو له لارې ګټه پورته کوي.[31]

د اوبو لګولو لپاره د ځمکې لاندې د اوبو د سرچینو د تقاضا ډیروالی او دوامدارې وچکالۍ ، "په ټول افغانستان کې د ځمکې لاندې د اوبو د سطح او د اوبو د بستر د پام وړ کموالی لامل ګرځیدلي دي."[32] د یوه اټکل پر بنسټ ، د ځمکې لاندې د اوبو سرچینې په تیرو وروستیو کلونو کې شاوخوا ۵۰ سلنه کموالی موندلی دی.[33] د دې په پایله کې ، کابو ۶۰-۷۰ سلنه شته کاریزونه او ۸۵ سلنه لږ ژورې څاګانې ، د اړتیا په پیمانه اوبه نه تامینوي.[34] د اندېښنې وړ خبره دا ده چې یو شمېر کروندګر ، په خپل سر ، د ژورو او لږ ژورو څاګانو په کیندلو لاس پورې کوي بې له دې چې د ځمکې لاندې پر اوبو د دې شان څاګانو د کیندلو له پایلو څخه خبر وي.[35]

## ب. د زیږینو اوبو لپاره وضعیت، تکنیکي پرمختیا او مخکیني

د اوبو د طبیعي تامین په لار کې شته خنډونه ، په جوړښتونو کې د ناوړتیا له کبله چې د اوبو د سرچینو په مدیریت او له دغو سرچینو څخه د کرنې لپاره په پراخه پیمانه په ګټه اخیستنې کې پاتې راغلي دي ، نور هم زیاتیږي.[36] "پرته له څو سیمو چې په کې للمي کرنه کیدای شي ، د هیواد په ډیرو سیمو کې کرنه بې له اوبو لګولو ممکنه نه ده ځکه په دغو سیمو کې د اورښت اوبه یا ډیر لږ دي او یا د اعتبار وړ نه دي. "[37] په حقیقت کې ، د یوې څیړنې د موندنو پر بنسټ ، "کابو ۸۵ سلنه کرنیز محصولات چې په افغانستان کې کرل شوي ، د اوبو لګولو تر سیستم لاندې اوبه ورکول شوي. په افغانستان کې د کرنیزو ځمکو اوبو لګولو لپاره له کانالونو څخه ګټه اخیستل د اوبو لګولو تر ټولو عامه طریقه ده. دغه کانالونه ، د هیواد کابو ۷۵ سلنه کرنیزو ځمکو ته اوبه رسوي چې په ډیره د هیواد په شمال ، لویدیځ او سویل لویدیځ کې موقعیت لري.[38] دغه کانالونه ، په بنسټیزه توګه ، له هغو رودونو او ویالو څخه اوبه تر لاسه کوي ، چې د واورې له ویلي کیدو څخه اوبه تر لاسه کوي او بیلابیل ظرفیتونه لري.[39] په بیلابیلو ځایونو کې د اوبو د مسیر د بدلولو لپاره وړوکي بندونه او ویالې جوړیږي تر څو اوبه د اوبو لګولو کانالونو ته ورسیږي.[40] دغه ویالې ، دواړه ترلې او خلاص جوړیږي تر څو د اوبو لیږد تر کنترول لاندې ونیول شي.[41] په ساده کانالونو کې ، کروندګر ، دغې ویالې په ختو او یا ټکرانو سره بندوي او یا خلاصوي.[42] دغه بهیر ، په ډیره د میرآب او میرآب باشیانو له خوا عملي کیږي او یا له دغه بهیر څارنه کوي.[43]

په نمونه یي ډول ، میرآب د یوه قوم رییس او یا مشر دی چې د اوبو لګولو د سیستم د فعالیت د تنظیمولو او د اوبو د ویش د کنترول لپاره د کروندګرو له خوا د هوکړې شوي ترتیباتو پر بنسټ ټاکل کیږي. [44] همدا راز ، له میرآب څخه غوښتنه کیږي چې له اوبو د ګټې اخیستنې پر سر د کرندوګرو تر منځ شخړې حل کړي.[45] میرآبان ، یو یا دوه مرستیالان لري چې د خپل فعالیت په بدل کې ، غنم او یا نور کرنیز محصولات تر لاسه کوي.[46]

د افغانستان د اوبو لګولو سیستمونه څو پیړۍ سابقه لري[47] او کروندګر ، په پراخه پیمانه له دغو سیستمونو څخه کار اخلي.[48] په دودیزه توګه ، د اوبو لګولو د سیستم فعالیت او ساتنه ، د هغې ټولنې مسوولیت دی چیرې چې دغه سیستم موقعیت لري.[49] په اساسي ډول ، میرآب د اوبو لګولو سیستم د تفتیش او د هغې د ساتنې او ترمیم مسؤلیت په غاړه لري.[50] د هغه نظام تر لاندې چې "حشر" ورته ویل کیږي ، د ټولنې غړي ، په دودیزه توګه راټولیږي تر څو د اوبو لګولو سیستم د فعاله ساتلو لپاره کاري ځواک برابر کړي.[51] سره د دې چې د مراقبت او ساتنې عادي چارې وخت په وخت هغه مهال ترسره کیږي چې د مراقبت د چارو لپاره ګڼ شمېر مزدوران موجودي وي ، خو لوی ترمیمونه بې د حکومت له ملاتړ څخه نشي تر سره کیدای.[52]

د څو کلونو دوامداره جګړو ، د اوبولګولو د سیستمونو مراقبت او ساتنه له منځه وړی او یا یې ګډوډ کړی دی چې له همدې کبله ، ټولیزه اغیزمنتوب راټیټ او د کرنې سکتور اقتصادي وده له خنډ سره مخ شوی ده.[53] د مثال په توګه ، د ۲۰۰۲ کال یوې څېړنې اټکل کړی چې "د ختو یا لجن زیاتوالی ، د کانالونو د څنډو ویجاړېدل ، او د خپلسرو نباتاتو شنه کېدل ، د کانالونو ظرفیت تر ۸۰ سلنې راټیټ کړی دی."[54] د دې برسیره ، رواني شخړې ، د اوبولګولو پر سیستمونو له ۲۷ سلنې څخه تر ۳۰ سلنې پورې منفي اغیز لرلی دی.[55] د حکومت د اټکل له مخې ، د جګړې د ۳۰ کلونو په لړ کې "د اوبو لګولو ۴۸۵۰ شبکې یا ویجاړې شوي او یا له سره غیر فعالې دي."[56] په پایله کې یې ، په اوبولګول شوي ځمکې چې په ۱۹۷۸ کې شاوخوا ۲,۸ څخه تر ۳ میلیون هکتار وې ، په ۲۰۰۲ کې ۱,۵ میلیون هکتار ته ورسیدلې.[57]

له هغه وروسته چې حکومت د خړوبونې د څه نا څه ۱۸۵۰ شبکو د بیا رغونې او یا جوړولو چارې بشپړې کړې ، په ۲۰۱۱ کال کې د خړوبه شوې ځمکې کچه ۳۵۰۰۰۰ هکتارو ته لوړه شوه.58 په دې وروستیو کې ، د نړیوال بانک د نړیوال پراختیایي انجمن په ملاتړ ،د اوبو او انرژۍ وزارت د کندهار ولایت په سپین واله کانال کې د بیارغونې کار بشپړ کړ. د کانال د بیا جوړولو او رغولو وروسته د خړوبونې ظرفیت چې پخوا ۷.۴ هیکتاره فارمې ځمکه وه ۲۱۴۵ هیکتارو ته لوړ شو .59 د دې سربیره ، د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۱ ، د کجکي د صنعتي بند د دوهم پړاو د جوړولو ترون د اوبو او انرژۍ د وزیر له خوا لاسلیک شو60. تمه کیږي دا پروژه به د کال په اوږدو کې ۵۰۰۰۰ جریبه اضافي ځمکه خړوبه کړي.

د ننګرهار ولایت کانال، په افغانستان کې د کانال په وسیله د ابولګولو یوه نمونه ده. دغه کانال، ۷ کیلومتره اوږدوالی لري چې د جلال آباد په شاوخوا کې، درونټې بند ته څېرمه له کابل سیند څخه جریان مومي او په سترو سیفونونو کې له څو سیندنیزو بسترونو څخه د تیریدو وروسته، څو هکتاره ځمکه اوبه کوي او وروسته په یوه کیلومتر تونل کې بهیږي او بیا د یوه سیفون د ۵۰ متره ژورې درې څخه د تیریدو وروسته د حصار شاهي میدان ته بهیږي او بیا څو هکتاره ځمکه اوبه کوي. برسیره پر دې چې د ننګرهار کانال، د افغانستان تر ډیرو کانالو غټ دی، په دې شان د عصري سطحي کانالونو، تونلونو (چې کاریز نومیږي) او سیفونونو ترکیب چې له خندونو څخه تیریږي، په ټول هیواد کې لیدل کیږي خو تر یادشوي کانال وروکي دي.

د یوناما د قانون د حاکمیت ساحوي مشاهدې]

خو بیا هم نا اغیزمنتوب موجود دی: "په یو شمیر زیاتو مواردو کې ، د اوبو ضایع شوی مقدار د ۵۰ سلنو څخه اوړي ، او د اوبو ترلاسه شوی مقدار د را منځ ته شوې اضافه شوې اقتصادي ارزښت د ونډې په پرتله په څرګند ډول نامتناسب دی. "61 د حکومت د څرګندونو پر بنسټ ، په کرنه کې د اوبو استعمال ، د ټولو اوبو د استعمال ۹۰ سلنه ده.62 د ملګرو ملتونو د سازمان د خوړو او کرنې اداره د اوبو د استعمال په هکله له دې نه هم زیات اټکل وړاندې کوي. په ۱۹۸۸ کال کې ، دغې ادارې اټکل کړې چې د ټولو اوبو کابو ۹۸ سلنه د کرنې ، یوه سلنه د ښاروالی له خوا (د څښاک او روغتیا پالنې) لپاره او پاتې یوه سلنه د صنعتي موخو لپاره کارول کیږي.63 د دې په مقابل کې ، اضافه شوی اقتصادي ارزښت ، د هیواد د مشروع اقتصاد ۳۰ سلنه جوړوي.64

## ج. د اوبو سکتور بیارغونه یوه ملي لومړیتوب دی

دې ته په پام سره چې کرنه د افغانستان په اقتصاد کې مهمه ونډه لري او دا چې د کرنې د پرمختیا او پراختیا په لار کې د اوبو کموالی او د اوبو د ویجاړې شوي سیستمونو ستر خنډونه دي ، دا حیرانوونکې خبره نه ده چې د افغانستان د اوبو د سکتور بیارغونه له سترو ملي لومړیتوبونو څخه یو وي.[65] د اوبو د سکتور ستراتیژي چې په ۲۰۰۸ کې د انرژۍ او اوبو وزارت او نورو مسوولو وزراتونو له خوا منظوره شوې وه ، په ښکاره ډول د اوبو سکتور پرمختیا ، د کرنې د پرمختیا او بې وزلۍ په وړاندې مبارزه ، په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو کې ، سره تړلې بولي.[66] حکومت په دې باور دی چې د اوبو لګولو د شبکو بیارغونه ، پر کروندګرو چټک اغیز لري او له بلې خوا د اوبو لګولو نویو شبکو پرمختیا ، پر کلیوالي سیمو پراخ اغیز لري ځکه دا کار د کروندو د پراختیا لامل ګرځي. له دې کبله ، دواړه ، د اوبو لګولو د شبکو بیار غونه او د نویو شبکو جوړولو ته په عاجله توګه اړتیا ده تر څو اوبه له

سرچینو څخه کرنیزو ځمکو ته ورسوي او نورې کرنیزې ځمکې رامنځ ته شي تر څو با ثباته فصلونه ، آن د وچکالیو په لړ کې هم تر لاسه شي."[67]

## د اوبو حقوقو قانوني بنسټ

تر څو د ابولګولو شبکو د بیارغونې او د نویو شبکو رامنځ ته کولو په لړ کې حکومتي هڅې تحقق ونه مومي ، په هیواد کې به د کرنیزو اړتیاوو او د خوراک د برابرولو لپاره په دوامداره توګه اوبو ته اړتیا وي. دغه تقاضا ، په ډیره د اوبو د حقوقو (له رسمي ضمانتونو څخه برخمن هغه حقوق چې د افغانستان د اساسي قانون او مدون قوانینو برسیره ، د غیر رسمي قضایي میکانیزمونو لکه شرعي قانون ، او دودیزو رواجونو او کړنو له خوا تضمین شوي) پر سر د لانجو او شخړو سبب ګرځي. د حقوقو دغو ټولو سرچینو په اړه به په روانه برخه کې بحث وشي.

### الف. د افغانستان اساسي قانون

د افغانستان د اساسي قانون په سریزه کې په ښکاره ډول ویل شوی چې د دغه قانون هدف ، د دې خاورې ټولو اوسیدونکو ته د یو هوسا ژوندانه او د ژوند د سالم چاپیریال تامینولظور دی. نهمه ماده د اوبو په ګډون ، د طبیعي سرچینو د سالم مدیریت اهمیت راپه ګوته کوي. په دغې ماده کې راځي چې: "د عامه املاکو او طبیعي سرچینو ساتنه ، اداره او په صحیح ډول ګټه اخیستنه د قانون له خوا تنظیم کیږي." همدا راز ، د طبیعي سرچینو د ساتنې مسوولیت په ۱۵ ماده کې هم راغلی چې حکومت اړ باسي چې "د ځنګلونو د حالت او د ژوند د چاپیریال" په ښه کولو کې اړین اقدامات تر سره کړي.

همدا راز ، اساسي قانون ، دولت اړ باسي چې "د خپلو مالي وسیلو په چوکاټ کې د کرنې او مالدارۍ د پرمختیا په موخه اغیزمن پروګرامونه طرح او پلي کړي."[68] اساسي قانون ، کرنه ، د کروندګرو ، مالدارانو او نورو وګړو ؛د اقتصادي ، ټولنیزو او معیشت د شرایطو د ښه کولو ؛ یوه وسیله ګڼي.[69]

### ب. مدون قوانین

د اساسي قانون عمومي ضمانتونه په دغو قوانینو کې په ځانګړې توګه تعریف شوي دي. په ټولیزه توګه ، د اوبو د حقوقو په اړه ، د افغانستان د مدون قوانینو دوې ابتدایي سرچینې دي: مدني قانون او د اوبو قانون

#### ۱. مدني قانون

مدني قانون وایي چې د سیندونه او د هغوی ښاخونه ، له "عامه املاکو" څخه دي.[70] خو هر څوک دا حق لري چې له دغو اوبو څخه د خپلې کرنیزې ځمکې ، د ونو په ګډون ، د خپلې شخصي ځمکو د اوبو کولو لپاره وکاري او یا د همدې موخې لپاره ویالې جوړې کړي "خو دا کار به د عامه ګټو او ځانګړي قوانینو پر خلاف نه وي."[71] مدني قانون دا نه ده راپه ګوته کړې چې کوم ډول ګټه اخیستنه ، د عامه ګټو پر خلاف دي او کوم نه دي خو یوازې دا وایي چې له عامه ویالو څخه اوبه اخیستل او د هغه ویش دي داسي تر سره شي چې د عامه ګټو ته د تاوان مخنیوي په پام کې ونیول شي او له اوبو څخه ګټه اخیستنه د ځمکې د اندازې سره متناسبه وي."[72]

هیڅ څوک ، بې له حقه ، نشي کولای چې کومه ویاله او یا د اوبو لګولو کانال جوړه کړي.[73] هغه کس چې پر خپله مځکه د ابولګولو کانال جوړوي ، دا حق لري چې څرنګه غواړي له هغه څخه کار واخلي او د جوړوونکي د اجازې پرته ، بل هیڅ څوک هغه نشي کارولای.[74] په داسې حال کې چې یو کس ، دلارې د حق پر بنسټ ، د بل چا پر ځمکه په قانوني ډول د اوبو لګولو کانال جوړوي ، د ځمکې ښتن ، کانال جوړوونکي ، د اوبو څخه له ګټې اخیستنې څخه نشي بې برخې کولای.[75] د ځمکې

څښتن ، د لاندینیو ځمکو څښتنان نشي اړ ایستلی چې هغوی په خپلو ځمکو کې اوبو ته لار ورکړي خو مګر دا چې د ځمکې د څښتن د لارې حق مطرح وي.[76] که چیرې د اوبو لپاره د لارې حق ، له مخه شتون ولري ، نو دغه حق به تر هغه مهال دوام ولري تر څو د هغه ضرر او یا غیر مشروعیت نه وي په ډاګه شوی.[77] دغه احکام په عمومي ډول د افغانستان د اساسي قانون د ۴۰مې مادې سره سمون لري چې د شخصي جایداد مالکیت تامینوي.

### ۲ د اوبو قانون

د اوبو قانون ، د اوبو د سرچینو د ساتنې ، عادلانه ویش او د اوبو د اغیزمنې او دوامداره ګټې اخیستنې په موخه ، د مقرراتو په ذریعه د اساسي قانون د ۹ مادې د حقوقو د اجرا لپاره وضع شوی دی.[78] د دې قانون هدف ، د فقهي احکامو او د خلکو د غوره دودونو او رواجونو پر بنسټ د ملي اقتصاد ملاتړ او له اوبو د ګټه اخیستونکو د حقوقو تامین دی.[79]

د اساسي قانون او مدني قانون په شان ، د اوبو قانون هم دا وایي چې اوبه "عامه ملکیت" او "د افغانستان د خلکو ملکیت" دی.[80] د افغانستان د خلکو غوره دودونو او رواجونو ته په پام سره ، اوبه ، د څښاک ، معیشت ، کرنې ، صنعت ، عامه خدمتونو ، د انرژي تولید ، ترانسپورت ، بیرې چلولو ، کب نیونې ، او چاپیریال لپاره کاریدی شي.[81] د قانون له مخې ، له دغو کارونو څخه ، د ګټې اخیستنې لومړیتوب ، څښاک او معیشت ته ورکول کیږي.[82]

له اوبو ګټه اخیستنه باید وړیا وي.[83] خو بیا هم ، د اوبو وړاندې کوونکي ، "د اوبو د برابرولو ، زیرمه کولو ، لیږد ، د مسیر بدلولو ، د اوبو د تصفیې ، د اوبو لګولو او د اوبو د برابرول او د سیستمونو د فعالیت ، ساتنې او مراقبت د چارو..." لپاره اجرت اخیستی شي."[84] که چیرې د اوبو کوم ګټه اخیستونکی ، د اوبو د خدمتونو لګښت ورنکړي او یا له اوبو څخه ناوړه ګټه واخلي ، نو به د نوموړي له اوبو څخه د ګټې اخیستنې حق تعلیق شي.[85]

د اوبو قانون شپږمه ماده د کرنې او معیشت تر منځ توپیر را په ګوته کوي او وړاندیز کوي چې دغه دوه اصطلاحات، بیل معناوې لري. له دې کبله، د دغو دوو اصطلاحاتو معناوو ته په پام سره، داسې نه ښکاري چې د اوبو قانون، د څښاک او معیشت پر ځای، کرنې ته لومړیتوب ورکړی وي.

دولت مکلف دی چې له اوبو ، د یوه طبیعي سرچینې په توګه ساتنه او مدیریت وکړي.[86] د دغه هدف د تر لاسه کولو لپاره ، د اوبو قانون ، د اوبو د ساتنې ، کنترول او اداره د ځانګړو اړخونو مسوولیت ، یوولسو وزارتونو او ادارو ته سپارلی دی.[87]

په عمومي توګه ، د اوبو د چارو د مدیریت عالي شورا چې غړي یې د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي ، د اوبو د سرچینو مدیریت د همغږۍ مسوولیت په غاړه لري.[88]

### الف: د اوبو د سرچینو د مدیریت هراړخیزه تګلاره

د اوبو د سکتور د ستراتیژۍ په شان ، د اوبو قانون ، د سیندنیزو حوزو پرمختیا ته د اوښتو او د ځایي شریکبانو د پیاوړې ګډون ، پر بنسټ د اوبو د سرچینو مدیریت یوه هراړخیزه تګلاره خپله کړې ده.[89] د مثال په توګه ، د اوبو د سکتور ستراتیژي ، د اوبو د سرچینو د مدیریت ، فعالیت ، او د اوبو د برابرولو او د سیستمونو د ساتنې برسیره ، له اوبو د استفادې د ویش په اړه پریکړو کې د نهایي ګټه اخیستونکی د ګډون پر اړتیا ټینګار کوي.[90] همدا راز ، د اوبو قانون ، د اوبو د سرچینو د مدیریت او پلانولو په ټولو چارو کې د شریکبانو ګډون تشویقوي او په دې باور دی چې دا شان ګډون ، په ځانګړې توګه ، په ځایي کچه ، ډیر اهمیت لري.[91]

د اوبو قانون، د اوبو د ساتنې، کنترول او اداري د څانګړو اړخونو اصلي او حمايوي مسووليتونه، لاندينيو يوولسو وزارتونو او ادارو ته سپارلي دي:

۱. د انرژۍ او اوبو وزارت
۲. د کانونو وزارت
۳. د عامې روغتيا وزارت
۴. د چاپيريال د ساتنې ملي اداره
۵. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت
۶. د ښار جوړولو وزارت
۷. د کليو د پراختيا او بيا رغونې وزارت
۸. د ترانسپورت او ملکي هوانوردۍ وزارت
۹. د بهرنيو چارو وزارت
۱۰. د کورنيو چارو وزارت
۱۱. د سرحدونو او قبايلو د چارو وزارت]

د دغه هدف تر لاسه کولو لپاره ، د اوبو قانون د سيندنيزو حوزو شوراګانې او اداري جوړې کړي تر څو د تصميم نيولو په بهير کې د اوبو د ځايي ګټه اخيستونکو او نورو شريکانو ګډون او ونډه تشويق کړي.[92] ټاکل شوې چې د سيندنيزو حوزو دغې شوراګانې ، د افغانستان په پينځو سيندنيزو حوزو کې چې په لاندينۍ نقشه کې ښودل شوی ، جوړې شي:




د سيندنيزو حوزو شوراګانې ، د نورو موضوعاتو تر څنګ ، په خپلو سيندنيزو حوزو کې دغه مسووليتونه په غاړه لري:

- د اوبو ملي تګلارې ته په پام کې نيولو سره ، د اوبو د سهميې ټاکل ؛
- د اوبو د حقوقو (حقابو) د تامين د چارو تنظيم او څارنه ؛
- له اوبو د ګټې اخيستنې د اجازه ليک د ارزونې ، تنظيمول او ردولو په اړه د معيارونو رامنځ ته کول ؛
- له اوبو د ګټې اخيستنې د اجازه ليک صادرول ، بدلون او يا لغوه کول ؛
- د سيندنيزو حوزو د فرعي شوراګانو د چارو څارنه ، د هغو د پريکړو بيا کتنه ؛ او
- د اوبو د ويش او ګټه اخيستنې پر سر د شخړو حل و فصل ؛[93]

د سیندنیزو حوزو د شوراګانو او ادارو برسیره ، د اوبو قانون ، د انرژۍ او اوبو وزارت مکلف کوي تر څو له اوبو د ځایي ګټه اخیستونکو ، اړوندو دولتي بنسټونو او شریکبانو په ګډون د سیندنیزو حوزو فرعي شوراګانې جوړې کړي.[94] د سیندنیزو حوزو فرعي شوراګانې ، د شخړو د حلولو هغه صلاحیتونه لري چې د سیندنیزو حوزو شوراګانې یې لري خو فرعي شوراګانې د اوبو د ګټه اخیستنې اجازه لیک د صادرولو و او تعدیلولو واک نلري.[95] څرنګه چې وړاندې وویل شو ، د سندنیزو حوزو د فرعي شوراګانو چارې او پریکړې د اړوندو سیندنیزو حوزو د شوراګانو تر څارنې او ارزونې لاندې وي.[96]

د اوبو د سرچینو د مدیریت هراړخیزي تګلارې سره سم ، د اوبو قانون وړاندوینه کوي چې د اوبو د سرچینو په ساتنه او ادارې کې له اوبو د ځایي ګټه اخیستونکو ټولنې مهمه ونډه اخلي.[97] دغه قانون دوه بیلا بیلې ټولنې جوړوي: له اوبو د ګټه اخیستونکو ټولنې ، او د اوبو لګولو ټولنې. د یاد قانون د لسمې مادې دوولسم جزء ، د انرژۍ او اوبو وزارت مکلفوي تر څو له اوبو د ګټه اخیستونکو ټولنې جوړې کړي ؛ دغې ټولنې د حقیقي او یا حکمي اشخاصو داوطلبې ډلې دي چې په خپلو ټولنو کې له اوبو د ټولنیزه اقتصادي او حرفوي ګټه اخیستنه تر غور لاندې نیسي.[98] د دغه قانون د یوولسمې مادې پینځم جزء ، د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلفوي تر څو د اوبو لګولو ټولنې جوړې کړي.[99] د اوبو لګولو د ټولنو د ونډې په اړه د قانون په ۲۳ ماده کې تفصیل ورکول شوی چې وایي ؛ د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت کولای شي په ځانګړو سیمو کې د اوبولګولو په شبکو (کانالونو) کې د اوبو د ویش مسوولیت د اوبو لګولو ثبت شویو ټولنو ته وسپاري.[100] د اوبو د قانون ۲۳ ماده ، د اوبو لګولو ټولنې د اوبو لګولو دودیزو سیستمونه سره مربوطوي او دغو ټولنو ته اجازه ورکوي چې د حقابو اداره او مسوولیت ، خپلو ټاکل شویو میرآب باشیانو او میرآبانو ته وسپاري.[101]

### ب. له اوبو ګټې اخیستنې لپاره د اجازه لیک د صادرول اړین دي

له اوبو د ګټې اخیستنې د چارو د ښه تنظیم په موخه ، د اوبو قانون ، د لاندینیو څلورو مواردو نه پرته ، بې له اجازه لیکه ، له اوبو ګټه اخیستنه منع کړې ده:

- د څښاک ، معیشت او نورو اړتیاوو لپاره ، په شرط د دې چې د یوې کورنۍ د اوبو استعمال په ۲۴ ساعتونو کې تر ۵ متره مکعبه ډیر نه وي ؛
- د بیړۍ چلولو لپاره ، په دې شرط چې ساحل او د سیند حریم ته زیان ونه رسوي او تر مجاز نورم نه زیات ، د اوبو پر کیفیت منفي اغیز ونلري ؛
- د اور وژنې په موخه ؛ او
- اوسنیو حقابو ته ، تر هغه وخته چې د اوبو د قانون له مخې ، د سیندنیزې حوزې د اجازه لیک بهیر نه وي تطبیق شوی.[102]

ټاکل شوې چې حقابې ، د اوبو د قانون د احکامو له مخه ، په تدریجي ډول ، اجازه لیک ته بدل شي.[103] په داسې حال کې چې د قانون د پلي کیدو بهیر جریان لري ، د اوبو د زیرمه کولو او د اوبو نورو اړوندو کارونو لپاره ، د اجازه لیک اخیستلو ته به اړتیا وي.[104] د اوبو له سرچینو څخه د ځانګړو چارو لپار د ګټې اخیستنې لایسنس به اړین وي.[105] د اوبو د قانون د احکامو له مخې ، په لاندینیو مواردو کې د اوبو د کارولو لپاره به د لایسنس او یا اجازه لیک اړتیا وي:

- د نویو پرمختیایي پروژو لپاره له سطحي او یا د ځمکې لاندې اوبو څخه کار اخیستل ؛
- د اوبو په سرچینو کې د فاضل آب اوبه تویول ؛
- د اوبو په سرچینو کې د تشنابونو اوبه تویول ؛
- د سوداګریزو او صنعتي مقاصدو لپاره د اوبو کارول ؛
- له معدنیاتو ډکو او یا د ګرمو اوبو چینو څخه د سوداګریزو مقاصدو لپاره ګټه اخیستل ؛
- د سوداګریزو ، صنعتي ، کرنیزو او ښاري اوبو رسولو د مقاصدو لپاره د ژورو او نیمه ژورو څاګانو کیندل او حفرول ؛
- د اوبو د زیرمه کولو لپاره د بندونو او یا نورو ودانیو جوړول چیرې چې تر ۱۰ زره متره مکعبه زیاته اوبه په کې زیرمه کیدا شي ؛ او

د داسې ودانیو جوړول چې پر ساحلونو ، د اوبو پر بسترونو ، مجراوو ، ویالو ، دلدل زارونو ، کاریزونو او چینو پر حریم تېری کوي ؛[106]

د لایسنس او یا اجازه لیک د صادریدو وروسته ، که چیرې له اوبو ګټه اخیستونکی ، خپله ونډه نه وي کارولې او یا یې ډیرې استعمال کړي وي ، د سیندنیزې حوزې شورا کولای شي چې د ګټه اخیستونکی لایسنس یا اجازه لیک تعلیق او یا لغوه کړي.[107] برسیره پر دې ، که چیرې اوبه په زیاته پیمانه موجودی نه وي او یا د ملي منافعو غوښتنه وي ، د سیندنیزې حوزې شورا کولی شي لایسنس او یا اجازه لیک ، لغوه او یا تعلیق کړي.[108]

## ت. سرغړونکو لپاره جنايي مجازات

هغه کسان چې په لاندینیو کړنو مرتکب شي ، د جنایي مجازاتو سره به مخ شي:

- د اوبو سرچینې بندې ، بدلې او یا ویجاړې کړي ؛
- د اندازې آلات او یا نښې چې له چاړواکو له خوا نصب شوي ، لرې او یا ویجاړې کړي ؛
- د اوبو د سرچینو جریان بدل کړي او یا بې له قانوني صلاحیته ، د اوبو په ویش کې لاسوهنه وکړي ؛
- پر عامه اوبو ، د سیندونو پر ساحلونو ، د اوبو پر بسترونو ، کانالونو ، ویالو ، چینو ، کاریزونو او د ځمکې لاندې د اوبو نورو سرچینو ، دلدل زارونو او جبه زارونو چې د اوبو عامه سرچینې بلل کیږي ، پر حریم تیری وکړي ؛ او یا
- اوبه ، د مجاز له حده زیاتې ککړې کړي ؛[109]

سرغړوونکي کس ، که چیرې ګرم وپیژندل شي ، به تر دوو کلونو په بند محکوم شي او د رسول شوی زیان د ارزښت په اندازه جریمه شي.[110]

## ث. دشخړو د حل تګلاره

په جنایي مجازاتو سربېره ، د اوبو قانون ، د شخړو د حل لپاره د غیر جنایي یا مدني میکانیزم بهېر هم لري.[111] د اوبو د قانون ۳۴ ماده ، د شخړو د حل د یوه څو پړاویز بهېر وړاندوینه کوي. دغه بهېر ، د اوبو د استفادې او د اوبو لګولو د شبکو پر سر شخړې د ۱۵ ورځو په ترڅ کې حلوي خو په دغې مودې کې د اداري پریکړې وروسته ، د قضایي بیا کتنې موده نه ده شامله. بې له شکه ،د

شخړو د حل لپاره دغه ټینګه ټاکلې موده ، هغه حقیقت څرګندوي چې فصلونه او د فصلونو تولول ، د اوبو پر برابرولو تکیه لري او له همدې کبله ، پر اوبو او اوبولګولو شبکو شخړې دي یې له ځنده حل شي تر څو په عملي بڼه ګټوره وي او د کروندګرو او ګټه اخیستونکو احتمالي زیان را ټیټ کړي.[112]

د اوبو د کاروني په اړه له اوبو ګټه اخیستونکو تر منځ د شخړو د حل لپاره اقدام ، له اوبو د ګټه اخیستونکو ټولنو له خوا پیل کیږي او د میرآب او میرآب باشي په مرسته د مینځګړتوب هڅه کوي.[113] که چیرې له اوبو ګټه اخیستونکي د دوو ورځو په لړ کې خپلې شخړې حل نه کړي ، موضوع ، د سیندنیزې حوزې فرعي شورا ته راجع کیږي او دغه شورا د شخړې د حل لپاره درې ورځې وخت لري.[114] د دریېو ورځو نه وروسته ، شخړه د سیندنیزې حوزې شورا ته راجع کیږي او دغه شخړه باید د څلورو ورځو په ترځ کې حل کړي.[115] که چیرې بیا هم د حل کومه لار و نه موندل شوه ، دا موضوع د انرژۍ او اوبو وزارت ته سپارل کیږي تر څو د شپږو ورځو په ترځ کې شخړه حل کړي.[116] که چیرې کوم ګټه اخیستونکی د انرژۍ او اوبو وزارت له پریکړې څخه ډاډمن نه وي ، نو دی کولای شي چې د یاد وزارت د پریکړې پر خلاف په ۳۰ ورځو کې د ننه ، په ابتداییه محکمې کې خپل اعتراضونه ثبت کړي.[117] د بیا کتنې ډیرې اداري طرحو سره په سمون کې ، د اوبو قانون ، د شخړو د حل لپاره ، په قضایي ارګانونو کې د پریکړې د بیا کتنې د حق وړاندوینه نه کوي تر هغه مهال چې شخړه ، له اوبو ګټه اخیستونکې ټولنې ، د سیندنیزې حوزې شوراګانو او فرعي شوراګانو او د انرژۍ او اوبو وزارت ته وړاندې نشي.[118]

<u>جدول ۱ : له اوبو د ګټې اخیستنې په اړه د شخړو د حل او فصل بهیر</u>




د اوبو لګولو پر شبکو ، د کروندګرو تر منځ د شخړو د حل لپاره ، د اوبو قانون ، دې ته ورته بهیر رامنځ ته کړی دی. کله چې د اوبو لګولو پر شبکو اختلاف رامنځ ته شي نو موضوع ، لومړی د اوبو لګولو ځایي ټولنې ته راجع کیږي او دغه ټولنه ، د میرآب او میرآب باشي په مرسته ، دوه ورځې وخت لري تر څو شخړه حل کړي.[119] که چیرې د شکیلو غاړو تر منځ شخړه په دوو ورځو کې حل نه کړای شي ، نو موضوع د سیندنیزې حوزې فرعي شورا ته راجع کیږي او دغه شورا د شخړې د حل لپاره درې ورځې وخت لري.[120] د دریېو ورځو نه وروسته ، شخړه د سیندنیزې حوزې شورا ته راجع کیږي او دغه شخړه باید د څلورو ورځو په ترځ کې حل کړای شي.[121] که چیرې بیا هم د حل کومه لار و نه موندل شوه ، دا موضوع د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته سپارل کیږي تر څو د شپږو ورځو په ترځ کې شخړه حل کړي[122]. که چیرې کروندګر ، د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له پریکړې سره قانع نه وي ، نو دی کولای شي چې د یاد وزارت د پریکړې پر خلاف په ۳۰ ورځو کې د ننه ، په اړونده ابتداییه محکمې کې خپل اعتراضونه ثبت کړي.[123] یو ځل بیا ، له دغو اداري بهیرونو څخه پرته ، څوک دا فرصت نه لري چې د اوبو لګولو د شبکو پر سر د شخړو په اړه په محکمې کې دعوا دایره کړي.[124]

جدول ۲: د اوبو لګولو د شبکو په چوکاټ کې د شخړو د حل پروسې

| د میرآب او میرآببشي په مرسته د اوبو تګښتي اختلافونه | دسیمه‌یزي حوزي فرعي شوراګاني | دسیمه‌یزي حوزي شوراګاني | د انرژۍ او اوبو وزارت | محکمه |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| • دشخړو د حل لپاره دوه ورځې وخت | • دشخړو د حل لپاره درې ورځې وخت | • دشخړو د حل لپاره څلور ورځې وخت | • دشخړو د حل لپاره شپږ ورځې وخت | • له اوبو که اختلاف، ۳۰ ورځې وخت لري تر څو له محکمې څخه ښکاینې غوښتنه وکړي. |

که څه هم د اوبو د کاروني او خړوبونې د شبکو په تړاو د شخړو د قضايي بيا کتنې لپاره د پروسو په هکله د اوبو قانون زيات جزئيات نه وړاندي کوي ، داسې ښکاري هغه عادي فعاليتونه او اصول چې د افغانستان په ابتدايي او استيناف محکمو کې رسمي قضايي اجراات اداره کوي د تطبق وړ دي. په بل عبارت ، لومړی قضيه په يوه با صلاحيته ابتدايي محکمه کې درج کيږي. د شخړې هر اړخ به بيا د ولايتي استيناف محکمې په وړاندې د متوسطه مرافعه غوښتنې حق ولري ، او همدارنګه به د افغانستان د سترې محکمې له خوا د نهايي قضايي بيا کتنې حق هم ولري.

د ۳۴ مادې د مکررې بيا کتنې د پروسې موخه د اداري بيا کتنې د ميکانيزم سره د رسمي منځګړيتوب يا د شخړې د حل د ميکانيزمونو يو ځای کول دي څو په رسمي قضايي بيا کتنه کې د نهايي نمايندګۍ پريکړې شاملې کړي. د دې پروسې فعاليت په قانون کې نه دی تعريف شوی خو ښايي انفرادي بزګرانو يا د ځمکو خاوندانو ، او همدارنګه *ميرآبانو* او د اوبو کارونکو او يا د اوبو د کاروني او لاسرسي د پوښتنو په اړه حالتونو يا د مخالفو ادعا ګانو په درلودلو سره د اوبو اتحاديو ته پکې ځای ورکړي. د اوبو محلي اتحاديې ، د اوبو د فرعي حوضو شوراګانې ، د سيند د اوبو د حوضو شوراګانې او د وزارت چارواکي بايد دغه شخړې- د کومو ارجاع چې د اوبو د قانون په عمومي مقرراتو کې نه ده شوې هوارې کړي او د هر ډول جوازونو د صادريدو په هکله چې ممکن يو وخت صادر شي هم خبري وکړي. کله چې اړوند وزارت کومه نهايي پريکړه نيسي ، د قضايي بيا کتنې حق ورکول کيږي ، خو يو ځل بيا هم ، هغه معيار د کوم لاندې چې د وزارت پريکړه له سره کتل کيږي ، نه ده بيان شوې.

د بيا کتنې په زياترو اداري طرحو کې ، قاضيان اړ دي تر څو د اداري ارګانونو منطقي پريکړو ته چې دنده يې د قوانينو انفاذ دی ، درناوی وکړي. د دې استدلال موخه د هغو ادارو د فعاليت منعکسول دي کومې چې د خپل مسوليت د ساحو په دننه کې فعاليت کوي. د اوبو قانون دا نه مشخصوي چې د شخړې د حل لارو په پروسه کې د ښکيلو- اړوندو وزارتونو يا محلي اتحاديو او د سيند د حوضو د شوراګانو د اساسي پريکړو په تړاو داسې کوم استدلال وغځول شي. که چيرې مشخص نه شي ، د اوبو قانون ممکن قاضيانو ته دا اجازه ورکړي چې په تشه نسخه يوه واقعه درج کړي ، د اړوند وزارت له خوا د نيول شويو سپارښتنو يا د هر ډول پريکړو د نيولو وړاندې د مناسبوالي پرته د شخړې په تړاو د شخړې د هر اړخ د موقف معلومول. دغه ليد لوری ممکن د شخړو د حل لارو د پوره ميکانيزم موثريت او اغيزمنتوب تر پوښتنې لاندې راولي. د دې لپاره چې د شخړو د حل لارو د نظر وړ ميکانيزم په بشپړه توګه تاييد شي ، رسمي قضايي بيا کتنه بايد د نهايي اداري پريکړې د ارزونې تر مناسبوالي او قانوني کيدو پورې محدوده کړي. دغه روش ممکن د هغو مسايلو د بيا کتنې د موضوع اندازه را ټيټه کړي او ممکن د قضايي بيا کتنې د طرزالعمل د چټکوالي سره هم مرسته وکړي.

## ج. اسلامي قانون

"لا يمنع فضل الماء ليمنع به الكلاء.
ترجمه: له اضافه اوبو څخه د اضافه وښو د مخنيوي په خاطر مخنيوی نه شي کيدای. صحيح بخاري

د افغانستان د قانون لاندې د اوبو د حقونو په اړه هر ډول خبرې اترې بايد د اسلامي قانون مقررات هم په نظر کې ونيسي. د افغانستان د اساسي قانون دريمه ماده صراحت لري چې " په افغانستان کې هيڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي." د دې سربيره ، د اوبو قانون په دې اړه داسې وايې چې د اوبو د استعمالونکو حقونه ، د اوبو د سرچينو لپاره د حقونو په شمول بايد د اسلامي فقې د اصولو په مطابقت کې تعبير شي.[125]

په قران کې د اوبو په اهميت ټينګار شوی او په ورته وخت کې د اوبو اساسي اهميت ته په سوره ۲۱:۳۰ کې هم اشاره شوې ، (موږ) هر څه ژوندي له اوبو څخه پيدا کړيدي.[126] سنتي اسلامي قانون اوبو ته د ملي امانت په سترګه کتلې ځکه چې ويل کيدل اوبه د ټولنې حق دی او د مذهبي عملونو او عبادت په مرکز کې قرار لري او د بشري ژوند دوام دی.[127] په ټوليز ډول د اوبو د خصوصي ماليکيت حقونه منع و.[128] خصوصي کسان کولای شي د ځروبونې په موخه د عامه اوبو د سرچينو څخه تر هغو کار واخلي تر څو د دريم اړخ حقونه نقض نه کړي يا ټولنې ته زيان وا نهړوي.[129]

دغه روش د يوې قضيې څخه اخيستل شوی په کومه کې چې ميره د خپلې لومړنی ښځې د ځمکې څخه اوبه په دې نيت را ګرزوي تر څو د خپلې دوهمې ښځې ځمکه پرې خړوبه کړي. لومړنۍ ښځې د اوبو د مسير د انحراف په هکله شکايت وکړ او ويې ويل چې ځمکه يې په سنتي ډول په دې اوبه خړوبيده. د ښځې ميړه د هغې په غبرګون کې وويل او ادعا يې وکړه چې هغه وخت اوبه زياتي وي او په دې کې يې هيڅ کومه ستونزه و نه ليده چې اوبه د خپلې دوهمې ښځې ځمکې ته را وګرزوي. محلي شورا د نوموړې پريکړه ومنله او و يې ويل چې که څه هم د لومړۍ ښځې د ځمکې خړوبونه په لومړيتوب کې ده ، خو د ښځې ميړه کولای شي د دوهمې ښځې د ځمکې له پاره اضافه اوبه را وګرزوي او په دې شرط چې د اولې ښځې د ځمکې لپاره په کافي اندازه اوبه پاته شي.[130]

د شورا موندنې د اوبو د ښې کارونې د اسلامي اصولو سره په سمون کې دي ، ياد اصول د اوبو د ماليکيت مشروط يا محدود حق هغه وخت مني چې کله يو شخص د اوبو د تهيه کولو يا ويشلو له لارې ارزښت اضافه کوي.[131] متقابلآ ، اسلامي قانون يو شخص د اوبو د ساتلو يا د اوبو د چټلولو يا د اوبو د درجې د کيفيت د را ټيټولو په خاطر منع کوي.[132] د شخړې د را پورته کيدو په صورت کې ، شريعت د ميراب او يا نورو محلي چارواکو له خوا څوک چې د موضوع په هکله نهايي پريکړه ترسره کوي ، د حقونو د معلومولو لپاره طرزالعملونه تشريح کوي.[133]

## د. عرفونه او دودونه

لکه څنګه د مخه يادونه وشوه ، د اوبو قانون وړاندوينه کوي چې د اوبو حقونه به د اسلامي قانون او همدارنګه د خلکو د ستاينې وړ دودونو او عنعناتو سره په مطابقت کې تعبير شي.[134] په پرمختللي افغانستان کې د خلکو د ستاينې وړ دودونه او عنعنات په اسانې سره نه دي تعريف شوې ، ځکه چې دا دودونه او عنعنات د سيمې څخه تر سيمې او د کليو څخه تر کليو پورې توپير لري.

د يوناما د قانون د حاکميت د دفتر د ساحوي څيړنې پر مهال ، د ترلاسه شويو ملاحظاتو څخه نيولې بيا تر ترسره شويو مرکو پورې ، په زياترو ټولنو کې د اوبو د ويش پر سر کنترول تر ډيره بريده د محلي ميراب باشي ګانو يا هغو ميرابانو په واک کې دی د چا پريکړو ته چې تر ډيره بريده درناوی کيږي. د عبدالرحمن جامي[135] له خوا يو لرغونی کتاب ګوتې چې سرليک يې د اوبود حق ابه تقسيمات

دي ، لیکل شوی ، دا کتاب کله نا کله د اوبو د اختصاص ، اندازه ګیري او د اوبو د حقونو د اداره کولو په تړاو د محلي چارواکو له خوا کارول کیږي. دا کتاب چې په ۱۵ پیړۍ کې لیکل شوی اوس هم د هیواد په غربي سیمه کې کارول کیږي. په دې کتاب کې د اوبو د جریان د محاسبه کولو ، د خړوبونې د سیستمونو د ډیزاین او د خړوبونې د سیستم په دننه کې د اوبو د اختصاص لپاره اصول او فارمولونه ځای شوې[136].



Photos: Srinivas Chokkakula

تقسیمات حقابه ، عبد الرحمان جامي ، څرنګه چې د هرات ولایت د کرنې ، خړوبونې او مالداري په ریاست کې ساتل کیږي.

د اوبو د حق ابه د تقسیم کتاب په عام ډول د لاسرسي وړ نه دی. د یاد کتاب یوه نسخه د هرات ولایت د کرنې ، خړوبونې او مالداري د ولایتي ریاست په ارشیف کې موجوده ده خو په عام ډول د خلکو لپاره د لاسرسي وړ نه ده. هغه څوک چې د دې کتابګوتی سره بلد دي ، یاد کتاب ته د یوه قطعي کتاب په سترګه نه خو د یوه ډیر تشویقي کتاب په سترګه ګوري.[137] خو د ارزونې دغه کتاب ته د عامه خلکو نه لاسرسی دا مسله لا هم ستونزمنه کړې چې ایا هغه څه چې د دعوا خواووې ادعا کوي او د اوبو د حق ابه د تقسیماتو په کتاب کې د یوه سنتي عرف په حیث تسجیل شوې په ریښتیا سره د یوه عرف په حیث موجوده ده او یا حتي د کتاب په واقعي متن کې درج شوی — که څنګه.

د اوبو پرسر د شخړو د هوارولو په موخه د عنعنوي قانون یا دودیزو فعالیتونو د اتکا په برخه کې ستونزه دا ده چې د قواعدو یوه واحده مجموعه چې وکولای شي هغه تدوین او هغه په ورته ډول تطبیق کړي ، موجوده نه ده.[138] دغه سیستم د پخلاینې د پروسې پر ځای د قضایي پروسې پر حیث عمل کوي.[139] د انعطاف قابلیت شخړو ته دا فرصت ورکوي چې په خاصو زمینو کې حل و فصل شي چیرې چې شخړې په محلي لحاظ حساسې وي.[140] خو ، لکه څنګه چې به په لاندو برخو کې ولیدل شي ، د انعطاف قابلیت په خپله عنعنوي فعالیتونه را منځ ته کوي چې دا په خپل وار سره دا کړنې د خطر په معرض کې اچوي ، په خاص ډول د با نفوذه کسانو له خوا.[141]

## III د اوبو دشخړو ماهیت

د کرنې په سکتور کې د اوبو د حیاتي اهمیت ، او د کرهنیزو موخو لپاره د اوبو سرچینو ته د لاسرسي په موخه د چاپیریالي او جوړښتي محدودیتونو په نظر کې نیولو سره ، د اوبو د حقونو پر سر داخلي شخړې په دوامداره توګه د ځمکو د مالیکینو ، بزګرانو ، شاخوا کلیو او ولایتونو تر منځ را منځ ته کیږي.[142] په دغو شخړو کې شامل خطرونه لوړ دي ځکه زیاتره کلیوالي ټولنې د خپلو فصلونو د کر او د خپلو څارویو د تغذیې لپاره په کومو چې د دوی ژوند او معیشت متکی دی د اوبو سرچینو ته پر باوري لاسرسي متکي دي.[143]

" د کرهنیزې ځمکې ، په خاص ډول د خروبې د ځمکې د حقونو څخه په تینګه دفاع کیږي. کیدای شي دا په کمه اندازه کې واقع شي، د بیلګې په توګه، کله چې د پولې شریک د ګاونډي د ځمکې یوه برخه د قبالې په واسطه د خپلې ځمکې سره یو ځای کړي او یا د ځمکې د حدودو د تعیین شویو نشانو د ځای په ځای کولو او یا ( د بې ځای کولو) په هکله او یا د اوبو لګونې د کانالونو پر سر اختلافات را منځ ته کړي. "
بارفیلد، د افغانستان عرفي قانون ، ۲۰ پاڼه (د ځدراڼ څخه اقتباس ۱۹۷۸:۳۰۹)]"

له بده مرغه ، د اوبو پرسر یو شمیر شخړې په چټکې سره په زورورو مخالفتونو اوړي. یوه تن مبصر داسې وايي:

... دا د ځمکې او اوبو پر سر حقوقي پوښتنې نه دي چې زیاتې ستونزې را منځ ته کوي. دا په خپل ذات کې د خلکو له خوا د سمدستي غبرګونونو هغه پایلې دي کومې چې د خلکو د پریکړو په نتیجه کې هغه مهال را برسیره کیږي چې کله دوی فکر وکړي د هغوی تضمین شوی حقونه تر پښو لاندې شوې او دا بیا په خپله ستونزو ته لار هواروي. کله نا کله کوچنې شخړې هم په چټکې سره د سوک وهلو په شخړو او حتی کله هم په سختو شخړو اوړي چې کله دوي وګوري څوک د هغوي په کروندو کې کار کوي. ممکن یو شخص څوک په ډزو وویلې او د وینو بهولو ته لار هواره کړي او یا په جګړه کې یو ټپي شوی شخص ممکن د خسارې د جبران غوښتنه وکړي او د خپلو ټپونو په بدل کې خساره وغواړي. د دغو مسایلو د هوارولو په موخه ، مهمه ده د اصلي نښتې لامل معلوم شي چې څوک صحیح او څوک غلط و.[144]

د رقابت وړ ادعاوو په درلودلو سره ، د اوبو پر سر شخړې تر اشخاصو پورې محدودې نه دي ، کله نا کله دا ډول شخړې په چټکې سره تر ټولو ټولنو هم غځیږي. د دغو شخړو یوه بیلګه په شرقي افغانستان کې د کنړ په ولایت کې هغه مهال را منځ ته شوه چیرې چې د غره د یوې کوچنې چینې څخه د اوبو د مسیر د را اړولو پر سر د دوو ګاونډ کلیو تر منځ نښته ونښته.[145] د نښتې په پایله کې یو شمیر کسان ووژل شول او د انتقامي وژنو یوه لړۍ یې را منځ ته کړه. د خشونت دا لړۍ هغه مهال پای ته ورسیده چې کله د یوه کلي ټول وګړي بلې درې ته وکوچیدل. له نیکه مرغه ، د دې درجې خشونت عام نه دی ، خو دا په ډاګه کوي چې د اوبو د حقونو پر سر شخړې څنګه کولای شي په ناڅاپي ډول انفرادي کسان او ټولنې متاثره کړي.

د اوبو د حقونو پر سر شخړې هم د یوه ولایت څخه بل ولایت ته خوریږي. دوه وروستۍ بیلګې دا حالت په ډاګه کوي. لومړۍ بیلګه د تالقانو د سیند څخه چې د تخار او کندز د ولایتونو څخه تیریږي د اوبو د ویش د شخړې په تړاو اخیستل شوې. دوهمه بیلګه د پنجشیر د سیند څخه د کاپیسا او پروان ولایتونو ته د اوبو د ویش په هکله ده.

د تخار-کندر د ولایتونو تر منځ شخړه د یوه لوړ پوړې هیئت مداخلې ته اړتیا لري ، هیئت باید د دواړو ولایتونو کرهنیزې اړتیاوې معلومې کړي او د دې تحلیل پر بنسټ سپارښتنه وکړي چې د تالقانو د سیند څه ۶۲،۲ سلنه د کندز ولایت او ۳۷،۴ سلنه اوبه د

تخار ولایت لپاره تخصیص شي. دغه سپارښتنه متاعقبا د ولسمشر د فرمان په واسطه تایید شوه چې په اوس حال کې یې نظارت د کرنې ، ځروبونې او مالدارۍ د وزارت د چاروکو له خوا تر سره کیږي.[146] نورې شخړې نه دې را منځ ته شوې.

له بلې خوا د کاپیسا او پروان ولایتونو تر منځ شخړه لا هم نه ده هواره شوې. دا شخړه د یوې لسیزې پخوا ترون د تعبیر او تفسیر په هکله ده چې د پنجشیر د سیند څخه پروان ولایت ته د کانال د اوبو کارونه تنظیموي. د پروان ولایت ادعا کوي چې ترون دوي ته دا اجازه ورکوي چې د وچکالۍ په موسمونو کې د کانال د اوبو څخه ګټه پورته کړي. د کاپیسا ولایت دا خبره نه مني. په سیند کې د اوبو د مناسبو کچو د ساتلو او کاپیسا ولایت ته د اوبو د تدارکاتو د ساتلو او خوندي کولو په موخه ، په کاپیسا کې ولایتي چارواکو په نوبتي شکل د پروان په ولایت د کانال له لارې د وچکالۍ د موسمونو په شمول د اوبو جریان قطع کړې.
شخړې ته لا هم حل لاره نه ده موندل شوي او د دواړو ولایتونو بزګران لا هم په نا معلوم حالت کې شپې او ورځې تیروي.

د اوبو د انفرادي استعمالونکو په منځ کې شخړې لا ډیرې خپریدونکي دي. د یوناما د قانون د حاکمیت د دفتر له خوا د ساحوي څیړنې پر مهال دا جوته شوه چې د شخړې یوه مهمه ساحه د ځروبونې د کانالونو څخه د اوبو ناوړه استفاده او د اوبو غلا وه. په ګاونډ کې د ځمکو مالیکانو په نورو تور لګولی چې د اجازې نه پرته د اوبو د کانالونو او نورو زیرمو څخه اوبه را اړوي ، خصوصي بندونه جوړوي او یا په بل عبارت د اوبو ټاکل شوی جریان ته بدلون ورکوي.[147] په ټولو پورې تړلې بله شخړه هغه ادعا ګانې دي چې د اوبو استعمالونکي د خپل اختصاص څخه زیاتې اوبه کاروي ، د بیلګې په توګه ، د میراب د لارښونو څخه زیات د کانال د خروجي دروازو پرانیستل او همدارنګه د اضافي او پراخو فرعي کانالونو کیندل ، په خاص ډول په خصوصي ځمکو کې. د ځروبونې د کانالونو د قطر په بدلون سره د اوبو جریان زیاتوي ، څکه نو ، د سیستم له لارې د اوبو ویش متاثره کوي. د اوبو د اړولو او د اوبو په چارو کې د مداخلې په تړاو شخړې د وچکالۍ په موسمونو کې چې کله د اوبو کچې ټیټې وی زیاتیږي ، په خاص ډول د رود د کښته استعمالونکو لپاره.

په اوبو لګول شویو ځمکو کې د کرل کیدونکو فصلونو په ډول کې بدلون هم د شاو خوا له اوبو پر ګټه اخیستونکو ستره منفي اغیز لرلی شي. ځینې فصلونه لکه وریجې ، د نورو فصلونو لکه غنم ، په پرتله ، د پام وړ زیات اوبو ته اړتیا لري.[148]

په دې سربیره ، د برېښنا د تولید د خصوصي مرکزونو جوړول او د ژورو څاګانو کیندل ، چې دواړه د اوبو سطح کموي ، د اوبو نور ګټه اخیستونکي اغیزمنوي او په دې شان د شخړو د رامنځ ته کیدو سبب کیدلای شي.[149] په لاندې سیمو کې له اوبو ګټه اخیستونکي دلوړو سیمو د ګټه اخیستونکو له خوا ، د اوبو په مسیر کې په ځانګړې توګه د فاضل آب څخه هم اغیزمن کیږي.[150]

د ساتنې او مراقبت او ترمیم په عادي چارو کې ټولنیز مسوولیت ، د شخړو یو بل لامل دی. په ځینو مواردو کې ، د یوې ټولنې د غړو تر منځ د اوبو لګولو د سیستمونو د ساتنې او ترمیم پر اړتیا ، مسوولیت او لګښت شخړې رامنځ ته کیږي.[151] په پای کې ، داسې موارد هم ثبت شوي چې هغه کسان چې د یوه کانال ولکه ترلاس لاندې لري ، له دغه کاریز پر ګټه اخیستلو ، له کروندګرو څخه پیسې اخلي.[152]

د شخړې د سرچینې او یا ډول ته له پامه پرته ، داسې میکانیزمونه دي جوړې شي چې شخړه ، مخکې له دې چې تاوتریخوالی ته واوړي ، حل شي. د حقابو پر سر رامنځ ته کیدونکو شخړو د حل پر میکانیزمونو د خلکو باور هغه مهال اعاده کیدای شي ، چې شخړې په ړنه او عادلانه توګه حل شي. که چیرې دا کار تر سره نشي ، د هیواد له ډیرو مهمو اقتصادي سکتورونو څخه د یوه وده ، له ګواښ سره مخ کیږي. دغې موخې ته د رسیدو لپاره ، د افغانستان د اوسنیو قانوني چوکاټونو اغیزمنتوب په راتلونکې برخه کې تر بحث لاندې نیول کیږي.

## IV. اوبو د شخړو لپاره قانوني چوکاټونو اغیزمنتوب:

څرنګه چې وړاندې وویل شو ، په افغانستان کې د اوبو د شخړو د حل لپاره رسمي او غیر رسمي وسیلې موجودې دي. د اوبو قانون ، د یوه پیچلی څارنیز رژیم وړاندوینه کوي چې تر ډیره ، د ځایي ګټه اخیستونکو له خوا جوړ شوی دی. د حقابو په اړه دغه میکانیزم ، په دودیزو رواجونو او کړنو ، میرآب ته د اوړدې مودې واک او درناوي سره په ګډه ، بشپړ کیږي.

د یوناما د قانون د حاکمیت ساحوي څېړنه ښیي چې د اوبو د قانون هراړخیزې څارنیزې طرحې برسیره ، د اوبو د شخړو په حل کې میرآب اصلي څېره ده.[153] په دغه څېړنه کې د سروې شویو کسانو اکثریت دا وایي ، چې د اوبو پر سر د شخړو د حل لپاره یوازې او یا تر ډیره حده ، پر ځایي میرآب تکیه کوي. د محکمې د چارواکو سره له مرکې څخه ، دا په ډاګه شوه چې ولایتي محکمې ته د اوبو د شخړو یوازې یوه یا دوې قضیې راجع شوې دي. سربیره ، دغې رسمي قضیې ، د اوبو د دعوا شویو حقوقو د تخنیکي ستونزو په اړه نه بلکه له دغو اختلافاتو له کبله د رامنځ ته شویو فزیکي تاوتریخوالو د قانوني حل لارې لپاره دایرې شوې وې.[154]

د شخړو د حل له رسمي او غیر رسمي میکانیزمونو څخه له ګټې اخیستنې څخه مخ اړول بیلابیل لاملونه لري. یوه تشریح دا ده چې ، پیچلی اداري جوړښت ، څرنګه چې د اوبو په قانون کې وړاندوینه شوې ، په بشپړه توګه نه دی عملي شوی. یوه بله تشریح دا ده چې د اوبو د قانون د هراړخیزې دایرې سربیره ، د پام وړ تشې ؛ په ځانګړې توګه په قانون کې د غیر تعریف شویو رواجونو او کړنو شاملول ، شتون لري. برسیره پر دې ، خپلواکې څېړنې تصدیقوي چې ، خلک ، سم یا غلط ، قضایي ارګانونه ، د هیواد تر ټولو فاسد بنسټونه بولي. په څرګنده توګه د شخړو د حل لپاره ، د اوبو د قانون د هراړخیز چوکاټ سربیره ، دغه درې عناصر ، د دې په تشریح کې چې د اوبو پر سر د شخړو ښکیلې غاړې ، ولې د شخړو د حلولو دودیز میکانیزمونه غوره کوي ، مرسته کوي.

### الف: د اوبو قانون اداري چوکاټ په بشپړه توګه نه دی عملي شوی:

د یوناما د قانون د حاکمیت ځانګې ساحوي څېړنه ښیي چې د اوبو د سرچینو د مدیریت په برخه کې د اوبو د قانون هراړخیزه تګلاره په بشپړه توګه نه ده عملي شوې. د سیندنیزو حوزو شوراګانو ، د سیندنیزو حوزو فرعي شوراګانو ، او له اوبو او اوبو لګولو د ګټه اخیستنې ټولنو له لارې د ځایي ونډه اخیستنې جوړښت یوازې ، په څو سیمو او یا ولایتونو کې شتون لري.

- د سیندنیزې حوزې شوراګانې ، په کابل کې د کابل سیندیزه حوزه کې او د هریرود-مرغاب سیندنیزې حوزې لپاره شتون لري. پاتې درې نورې سیندونه ، هیڅ سیندیزه حوزه نلري.
- د سیندنیزې حوزې فرعي شوراګانې هم ، له پینځو سیندونو څخه یوازې د دوو (کابل او هریرود-مرغاب سیندنیزې حوزې) لپاره شتون لري.
- له اوبو او اوبو لګولو د ګټه اخیستنې ټولنې د هیواد په ډیرو ولایتونو کې جوړې شوې خو په عملي بڼه ، هیڅ فعالیت نلري.

د سیندنیزو حوزو د شوراګانو او فرعي شوراګانو د رامنځ ته کیدو سربیره ، د سیندنیزو حوزو پر جغرافیایي سرحدونو د اوبو د قانون تکیه ، د افغانستان په اداري واحدونو او حوزو کې د اوسنیو سیاسي سرحدونو سره د اختلاف سبب ګرځیدلې ده. سیاسي او جغرافیایي سرحدونه سره ورته نه دي. له همدې کبله ، د بشپړ عملي کیدو سربیره ، د دې خطر موجود دی چې د اوبو په قانون کې له وړاندوی ویل شوی اداري جوړښت ، د راپور ورکونې په ولایتي او ساحوي کانالونو کې له اغیزمن الحاق څخه پاتې شي.

په اداري جوړښتونو کې تشې هم په دې معنا دي چې له اوبو د ګټې اخیستنې د اجازې په اړه د اوبو د قانون له وړاندوې ویل شوی نظام ، په همدې شان نه دی عملي شوی.[155] د یوناما د قانون د حاکمیت څانګې ساحوي څېړنه ښیي چې ، په ۲۰۰۹ کې د اوبو د قانون د نافذ کیدو سره ، د هیواد په کچه ، د کومې سیندنیزې حوزې د شورا له خوا د اوبو کوم نوی اجازه لیک ، صادر ، ثبت او یا تعدیل شوی نه دی. په پایله کې ، په داسې حال کې چې تر اوسه یوه اجازه لیک هم نه دی صادر شوی ، له اوبو د ګټې اخیستنې د اجازه لیکونو نظام ته د اوسني حقابو د تدریجی بدلون پلان ، د له منځه تلو په حال کې دی. په دغه بدلون کې ځنډ په دې معنا ده چې د حقابو د ثبت هیڅ کوم روڼ مرجع شتون نلري. که چیرې او تر هغه مهال د حقابو د ثبت روڼ مرجع رامنځ ته نشي ، څرنګه چې د اوبو په قانون کې اټکل شوی ، پر حقابو د شخړو رامنځ ته کیدل به دوام ومومي.

د دې سربیره ، د یوناما څېړنه ، په پلان شوی اداري جوړښت کې د پام وړ ګډوډۍ راپه ګوته کړې. یو شمیر برخه اخیستونکي ، د اوبو د سرچینو د ویش ، مدیریت ، پرمختیا او اداري[156] په بهیر کې د ډیرو زیاتو ادارو له ښکېلتیا او د دغه پېچلی اداري جوړښت په رژیم کې د ناوړتیا له شتون څخه سر ټکوي.[157] څرنګه چې وړاندې وویل شو ، د اوبو قانون ، ۱۱ وزارتونو او ادارو ته لومړنۍ او یا د ملاتړ کوونکي ونډه سپارلې ده. که څه هم ټاکل شوې ده چې د اوبو او ځمکو عالي شورا ، د همغږۍ دنده په غاړه ولري ، خو ډیر لږ فریکي ثبوت شته چې وښیي دغه شورا د خپلې همغږۍ ونډه په معقوله او یا لږترلږه ، په څرګند ډول تر سره کړې وي. د نورو مواردو تر څنګ ، یوه مورد دا دی ، چې د اوبو د سرچینو هیڅ کوم مرکزي ډیټابیس نه دی جوړ شوی. دغه کار ، د یوه منسجم مدیریت د ستراتیژۍ په جوړولو کې ؛ څرنګه چې د اوبو په قانون کې له وړاندوې ویل شوې ، د ځمکې او اوبو د عالي شورا په ګډون د پلانوونکو ادارو د توان د محدودیت لامل ګرځیدلی دی.[158]

## ب: د اوبو د قانون د اداري چوکاټ پلې کیدو سربېره، تشې به پاتې شي

که څه هم د اوبو قانون ، د اوبو د سرچینو د مدیریت د یوه هراړخیز څارنیز نظام اټکل کوي ، خو د عملي کیدو سربېره ، څرنګه چې ښکاري ، به د پراخې دایرې څښتن نه وي. تر ټولو ډیره مهمه خبره دا ده چې د خلکو غوره دودونه او رواجونه د اوبو په قانون کې ځای موندلی دی.[159] څرنګه چې مخکې لیدل شوی ، دغه رواجونو او دودونو ، په ښکاره توګه نه دي تعریف شوي او نه هم سملاسي ورته لاسرسۍ موندلې شي. که چیرې دغه دودونه او معیارونه ، د سم تعریف پرته ، د اوبو په قانون کې شامل کړای شي ، کیدای شي په احتمالي ډول د پام وړ ابهام د رامنځ ته کیدو او د قانون د خپلسر تفسیر او تطبیق لامل وګرځي.

د کرنې لپاره د اوبو د وېش په اړه ، د اوبو قانون ، مدني قانون سره احتمالي شخړه رامنځ ته کړې ده. د مدني قانون پر بنسټ ، د اوبو لګولو لپاره د اوبو وېش باید داسې تر سره شي چې اوبو ته د ځمکې د اړتیا د اندازې سره سمون ولري.[160] د دې پر خلاف ، د اوبو قانون ، څښاک او معیشت ته لومړیتوب ورکوي او د کرنې لپاره د اوبو د وېش کومه تګلاره نه راڅرګندوي.[161] په داسې حال کې چې د اوبو د قانون طرح کوونکي ، ټولې اوبه څښاک او معیشت لپاره ځانګړې کوي او کرنې مستثنی کوي ، له اوبو د ګټې اخیستنې په لومړیتوبونو کې باید تعادل په پام کې نیول شوی وای. خو بیا هم ، د اوبو قانون ، په دې اړه چې څنګه دغه تعادل باید تر لاسه شوی وای چې نه یوازې عادلانه وای او په اقتصادي وده کې هم ګټوره وای ، چوپتیا خپله کړې ده. څرنګه چې مخکې لیدل شوی ، د افغانستان د خلکو غوره دودونه ، د دغې تشې په ډکولو کې کومه مرسته نکوي.

د اوبو د قانون د بیا کتنې د طرحې پیچلتیا او د شخړو څو پړاویز حل ، نورې اندېښنې راپاروي. سربېره پر دې چې د اوبو په قانون کې په اداري کچه ،د شخړو د حل لپاره د ۱۵ ورځو موده ټاکل شوې ده ، خو د مسوولو وزارتونو (د انرژۍ او اوبو وزارت او د خوراک ، کرنې او مالدارۍ وزارت) نهایي پریکړې د قضایي څېړنې سره مشروطې دي. د قضایي څېړنې د درېیو پړاوونو (ابتداییه محکمه ، د استیناف محکمه او ستره محکمه) د بشپړیدو د اړتیا موده تر هغه ډیره ده چې کروندګر ، چې په عاجله توګه د خپلو

فصلونو لپاره اوبو ته سخته اړتیا لري ؛ وتوانیږي انتظار وکړي ، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د مسوول وزارت د پریکړې د ځنډولو اړتیا نه وي.[162] د نېکمرغو کروندګرو او یا د ځمکې د څښتنانو فصلونه ، وړاندې له دې چې رسمی قضایي اجراات تر سره شي ، راټولیږي. په ډېرو مواردو کې ، هغه فصلونه چې د حقابو د شخړو چټک حل ته اړتیا لري ، له دې نه وړاندې چې قضایي پریکړه صادره شي ، په احتمالي ډول له منځه ځي. د حقوقو د احتمالي باطلیدو د مخنیوي په موخه چې ښایي د قضایي او اداري اوږدې پروسې له امله منځ ته راشي ، ضروری ده چې د قضیې د یوه لوري د احتمالې بریالتوب پر بنسټ یوه موقته قضایي فیصله یا ابتدایي حکم صادر شي.

نورې تشې ، د زیانونو د جبرانولو د بسیا او د حقابو په اړه د سرغړونې د مسوولیت په څیرنه کې د قضاتو په ګډون د نورو فني چارواکو سره تړاو لري.[163] د اوبو د اداري چارواکي او قضات ، په کره توګه د اوبو د سطحې او له اوبو د ګټې اخیستنې د اندازه کولو تخنیکي وسایلو د نشتوالی سره مخ دي. په افغانستان کې میترونه او داسې نور ټکنالوژۍ چې له اوبو ګټه اخیستنه ، په کره توګه اندازه کړي ، په پراخه توګه شتون نلري ؛ په بدیله توګه ، ځایي میرآبان ، تباشیر سره د کانالونو پر دیوالونو د نښو راکښلو سره د اوبو سطح اندازه کوي او د اټکل شوی بدلون پر بنسټ ، له اوبو د ګټې اخیستنې په اړه تجربوي قیاس کوي. نو له دې کبله ، د لانجې د مدعیانو لپاره دا ډېر ستونزمن کار دی چې په حقیقي ډول ثابته کړي چې څوک د اوبو د سطح د کمیدو مسوول دی او یا آیا ، ګټه اخیستونکی ، له خپلې ځانګړې برخې نه زیاتی اوبه کارولی دی.

سربیره پر دې ، د هغو کروندګرو او یا د ځمکې د څښتنانو لپاره چې خپل فصلونه له لاسه ورکوي ، نه جنایي مجازات د زیان جبران کولی شي او نه هم د محکمې جریمه او یا بندیزونه.[164]له حقابو څخه د سرغړونې له کبله د اوښتی زیان جبران ، چې د قانوني حقابو د نه پلې کیدو له کبله د زیان سب ګرځیدلی ، د یوې معقولې اداري او یا قضایي مرستې سره کیدای شي او په دغه مرسته کې باید فصلونو ته د ټولو اصلي زیان جبران شامل وي.[165] یوازې په دې شان ، کروندګر او د ځمکې څښتنان چې ناحقه له خپلو حقابو محروم کړای شوي دي ، بیا له سره تازه فصلونه وکري او د کرنې د سکتور په وده کې خپلې ونډې ته دوام ورکړي.

### ج:د خلکو دوام درېباورۍ، دشخړو د حل درسمي میکانیزمونو په لارکې خنډ ده

دې ته له پامه پرته چې د ښارنې طرحه څومره هراړخیزه ده ، د حقابو په اړه پر دولتي بنسټونو ، په ځانګړې توګه د وروستی حکم په توګه پر قضایي سکتور د خلکو باور ډېر مهم دی. له بده مرغه ، په رسمي عدلي سکتور کې فساد ، د حقابو د حل په لار کې یو خنډ دی.[166] خپلواکې سروې ګانو ، د هیواد محکمې د افغانستان تر ټولو له ډېرو فاسدو بنسټونو څخه یو بللی دی.[167] د افغانستان د روڼتیا د څار د ادارې د ۲۰۱۴ د فساد ملي سروې ، او د روڼتیا د نړیوال سازمان د ۲۰۱۳ د نړۍ د فساد د اندازه کولو آلې راپور ، د افغانستان عدلي او قضایي ارګانونه ، د تر ټولو د زیات فاسد دولتي بنسټونو په درجه بندۍ کې شامل کړی دی.[168]

په دې برسیره ، د عدالت رسمي نظام ته لاسرسی نامساعده دی ، په ځانګړې توګه په سوداګریزو چارو کې چې په عام حالاتو کې وړتیا ، تر سترو ښاري سیمو محدوده ده. "په محکمو کې د زیان د عادلانه جبران ترلاسه کولو پر بهیر بې باورۍ‌په دې معنا ده چې ډیری سوداګریزې شخړې له نورو لارو لکه قبایلي جرګې او یا غیر رسمي مینځګړتوب له لارې حل کیږي ".[169]

د روغې جوړې وړاندیز شوی قانون ، چې ولسي جرګې ته سپارلو په موخه ، د عدلیې وزارت د تقنین د ادارې له خوا وزیرانو شورا ته استول شوی ، په پام کې لري چې د شخړو د حل دغې غیررسمي سرچینې رسمي کړي. د دغه وړاندیز شوی قانون پر بنسټ ، د دودیزو جرګو پریکړې چې د شخړې د ښکیلو غاړو له خوا منل شوې وي ، په رسمي محکمو کې ثبت او په رسمي توګه له حقوقي اعتبار او اغیز څخه برخمنې کیږي. څرنګه چې په راتلونکې برخه کې تر بحث لاندې نیول کیږي ، د شخړو د حل له دودیزو

میکانیزمونو څخه پراخه ګټه اخیستنه ، او د رسمي عدلي سکتور سره د وړاندیز شویو شخړو د غیر رسمي حل سره یو ځای کیدنه ، د زیانمنیدوکنو ډلو لکه ماشومانو او ښځو کې اندېښنې راپاروي.

## د: دشخړو دحل دودي ميکنايزمونه‌له درناوی څه برخمن خوداښنې ور دي

د افغانستان په ټول تاریخ کې ، د اوبو د سکتور حاکمیت ، په سیمه اییزه او ولایتي کچه مدیریت کیده.[170] سیمه اییز میرآب د اوبولګولو د مرکزونو د ساتنې او د اوبو د ویش او ګټه اخیستنې په اړه د کلیدي پریکړو واک په لاس کې درلود.[171] میرآب ، د کروندګرو او دولتي چارواکو تر منځ د پله دنده ترسره کوله.[172]

خو د کلونو شخړې ، د حقابو په اړه دغه دودیز جوړښت زیانمن کړی دی.[173] د اوبو قانون په پام کې درلودل چې دغه دودیز جوړښت له سره ژوندی کړي او په تدریجي ډول د اوبو د سرچینو د مدیریت په عصري چوکاټ کې ورشامل کړي. څرنګه چې د مخه لیدل شوی ، ځایي ونډه اخیستنه ، د دغه هراړخیز عصري نظام یوه ښبنه وه ، خو تر دې دمه په بشپړه توګه فعاله نه ده.

تاخیر در تطبیق قانون آب ، نقش سنتی و حکمفرمای میرآب در حل مناقشات آب را دایمی ساخته است. مطالعه ساحوی بخش حاکمیت قانون یوناما ، اطمینان عمومی توانایی میرآب در حل عادلانه مناقشات را تصدیق کرده است.[174] ارائه اندکی از قضیه های مربوط به حقوق آب به وزارت های ذیربط و محاکم رسمی ، یک ثبوت این امر بوده میتواند ، اگرچه ، قسمیکه قبل مطرح گردید ، بر علاوه اطمینان با تصامیم میرآب ها ، دیگر توجیهاتی برای ارائه اندکی از قضیه های رسمی بوده میتواند.

د اوبو د قانون په عملي کیدو کې ځنډ ، د اوبو پر سر په شخړو کې د میرآب دودیزه او برلاسې ونډې ته تلپاتې بنه ورکړې ده. د یوناما د قانون د حاکمیت د څانګې څیړنه ، د اوبو پر سر د شخړو د عادلانه حل په اړه د میرآب عمومي وړتیاوې تاییدوي.[175] اړوندو وزارتونو او رسمي محکمو ته دحقابو په اړه ډیرې لږې قضیې راجع کیدلې ، د دې امر ثبوت کیدای شي. خو څرنګه چې مخکې وویل شو ، د میرآب پر پریکړو په قناعت سربیره ، د لږو رسمي قضیو راجع کیدل نور لاملونه هم لرلای شي.

خو تر اوسه ، ټول خلک د میرآب د پریکړو درناوي نه کوي. د یوناما د قانون د حاکمیت د څانګې څیړنه ، داسې موارد را په ګوته کړي چې میرآبان ، د اوبو د وېش پر سر د پریکړو په تړاو ، وهل ټکول شوي او همدا راز ګواښل شوي دي. د دې سربیره ، د ځینو ځواب ورکوونکو د مشاهدو پر بنسټ ، د مخورو او ځواکمنو کسانو په وړاندې شکایتونه په عادي ډول نه ثبتیږي ځکه د میرآب په ګډون ډیری ، هغوی نه ملامتوي.

میرآبان هم په عدلي سکتور کې د عادي فساد له نفوذ څخه خوندي نه دي پاتې شوي. په داسې حال کې چې په دې اړه کوم مستقیم مدرک او شواهد نه دي لاس ته راغلي ، د میرآبانو د اجرت ورکولو نظام ، په عادي توګه د فصلونو د محصولاتو د ونډې پر بنسټ دی. دغه کار ، میرآبانو ته یوه انګیزه رامنځ ته کوي چې د هغو کسانو پر ځای چې کروندګر ننګوي ، د کښت کوونکو او حاصل ټولوونکو څخه ملاتړ وکړي. سربیره ، له دې کبله چې میرآبان ډیر لږ اجرت تر لاسه کوي ، د قضاتو او څارنوالانو په ګډون د رسمي عدلي سکتور د نورو چارواکو په شان ، د رشوت او مراعات په وړاندې اغیزمنونکي دي.

په پای کې ، داسې اندېښنې شته چې له دودیزو لارو د شخړو حلول ، د ټولنې محرومې طبقې لکه ښځې او ماشومان له نظره غورځوي. که څه هم ښځې ، د کرنې په سکتور کې د کاري ځواک ۳۲ سلنه برابروي[176] ، په نارینه برلاسې ټولنه کې ، کله ناکله د اوبو پر سر د شخړو د عادلانه حل ترلاسه کول ، د دوی لپاره ګران کار دی. د حقابو په اړه د شخړو د حل لپاره په دودیزو رواجونو او کړنو کې د روڼتیا نشتوالی ، د دې ارزونه ناممکنه کوي چې په یوه ځانګړې مورد کې ، د میرآب پریکړه د شته اصولو د تطبیقولو

پر بنسټ په بې پرې توګه تر سره شوې او یا له طرفدارۍ څخه کار اخیستل شوی دی. دغه وضعیت هغه مهال ښه کیدای شي چې د پریکړې په ټول بهیر کې ډیره رونتیا په پام کې ونیول شي.

**هـ: پایله او وړاندیزونه:**

د ملي پرمختیا لپاره د دولت لومړیتوبونه ، د افغانستان په اقتصادي وده او د خلکو په سوکالۍ کې د کرنې د حیاتي ونډې اهمیت په پام کې نیولې دی. اوبه ، د کرنې د سکتور د سون د موادو په توګه پیژندل کیږي.

د تیرو څو کلونو شخړې ، د اوبو لګولو د نظام د زوال سبب ګرځیدلی دی. په دې سربیره ، پرله پسې وچکالۍ او لږ اورښت ، د سطحي اوبو د سرچینو د کمښت لامل شوی دی. په غیر منظم ډول د څاګانو کیندل ، د ځمکې لاندې د اوبو سطح راټیټه کړې ده.

د اجازه لیک نظام هدف ، څرنګه چې د اوبو په قانون کې وړاندوینه شوې ، د افغانستان د اوبو له محدودو سرچینو څخه د څارنې لپاره د یوه منسجم او همغږي نظام جوړول وو. خو له بده مرغه ، دغه موخه ، په بشپړه توګه نه ده ترلاسه شوې ، او د څارنې په اوسنی نظام کې تشې پاتې دي.

دغه تشې ، د افرادو تر منځ ، او ځینې وختونه ، د ټولنو تر منځ د شخړو سبب ګرځیدلی دی. ځینې شخړې د فزیکي تاوتریخوالی لامل شوی او یوه مورد داسې هم ثبت شوی ، چې دغې شخړې د انتقامي وژنو لامل ګرځیدلی چې په پایله کې یې د یوې ټولنې ټول غړي کډه کیدو ته اړ شوي دي.

د حقابو پر سر د راتلونکو شخړو د کمولو او د کرنې د سکتور د دوامدارې پرمختیا په موخه ، لاندنی وړاندیزونه دي په پام کې ونیول شي:

- د قانون د وړاندوینې سره سم ، د اوبو د قانون اداري جوړښت ، په ټولو سیندنیزو حوزو کې ، د سیندنیزو حوزو شوراګانو ،فرعي شوراګانو ، او له اوبو د ګټې اخیستنې ټولنو د رامنځ ته کولو سره ، په بشپړه توګه عملي شي. په اوسنی حالت کې ، لږ شمېر سیمې او ولایتونو داسې دي چې د اوبو د قانون له مخې اداري جوړښت لري. په پایله کې[177] ، د اجازه لیک بهیر ، څرنګه چې د اوبو په قانون کې وړاندوینه شوې ، نه دی اجرا شوی. د اوبو د محدودو سرچینو ، او د ژورو څاګانو د غیر منظمي کیندنې د کنترول په موخه ، چې د اوبو پر سطح منفي اغیز لري ، د اوبو د قانون د اجازه لیک بهیر د بشپړ تطبیق ، اړین امر دی.

- د اوبو د چارو د مدیریت عالي شورا ، مکلفه ده چې د مسوولو وزارتونو او ادارو تر منځ د اوبو د سرچینو د مدیریت د همغږۍ او اغیزمنتوب په موخه ، له خپل ټول واک څخه په بشپړه توګه کار واخلي. له معلوماتو او د خلکو له ادراک څخه داسې ښکاري چې دغه شورا ، د اوبو د سکتور د ستراتیژیو د همغږۍ لپاره هیڅ کوم مریي اقدام نه دی تر سره کړی.[178] سربیره پر دې ، د اوبو د سرچینو د مدیریت په اړه د وزارتونو او ادارو ګڼوالی ، ابهام رامنځ ته کړی چې د مسوولیتونو پر ویش ، په ځانګړې توګه پر اوبو لګولو ، د لا زیات انسجام غوښتونکی دی.[179] د یوه رهبر وزارت پر جوړولو چې د ستراتیژیو د پراختیا او عملي کولو مسوولیت په غاړه ولري ، پاملرنه وشي تر څو د کرنې د سکتور د اوبو لګولو اړتیاوې په دوامداره توګه پوره کړای شي.

- د شخړو د حل بهیر ، د دې احتمال سره چې وروسته د قضایي بیا کتنې سره مخ کیږي ، په دې ډول منسجم شي چې اداري پریکړې ، بې له دې چې د فصلونو وده او حاصل ټولول اغیزمن کړي ، پلې شي.[180] موقت قضایي حکمونه او مرستې په دې ډول برابرې شي چې د حقابو شخړې د حل د ځنډ په صورت کې ، فصلونو ته زیان ونه رسیږي. سربیره پر دې ، قضات ، د مسوول وزارت او یا وزارتونو د منطقي پریکړو ځنډول ، په مناسبه توګه وغځوي ، او د قضایي پریکړو لپاره ، د اوبو د سرچینو د مدیریت په برخه کې د هغوی تخصص ته پاملرنه وشي.

- په اداري او قضایي چارواکي ، د هغو کسانو لپاره چې له حقابو څخه یې سرغړونه شوې ، د مستقیمو او هغو زیانونو مالي جبران ورکړي چې د سرغړونو په پایله کې اوښتي او د سرغړونې له امله ، د له منځه وړل شویو فصلونو په بدل کې ، د بازار په بیه ، د هغو قیمت ورکړای شي. که څه هم د اوبو قانون ، د سرغړونو لپاره جنایي مجازات ټاکلي دي ، خو د هغو کسانو لپاره چې له حقابو څخه یې سرغړونه شوې ، په مناسب ډول د مدني حل لارو کوم چوکاټ نلري.[181]
- د لا زیاتې روښتیا د رواج لپاره ، د حقابو په اړه د تقسیمات حقابه په شان د دودیزو رواجونو او تګلارو یوه نسخه ، د اداري بنسټونو رسمي او یا غیر رسمي ، د محکمو او میرآبانو د پریکړو له نقل سره د په کتابتونونو او یا پر انټرنټ ، د لاسرسۍ کیښودل شي. مستدللو پریکړو ته د خلکو د لاسرسۍ نه درلودل ، د عدالت غیر رسمي نظام د لاسوهنې په وړاندې اغیزمنونکي پاتې کیږي او په قضایي اجرااتو کې ، د انصاف ارزونه په معقوله توګه ناممکنه کوي.[182]

د منل کیدو په صورت کې ، د دغو وړاندیزونو پلې کول ، د فني تخصص او د زیربناوو د پرمختیا په چوکاټ کې به د مرستندویو بنسټونو ملاتړ ته اړتیا ولري. د مرستندویانو د ملاتړ په همغږۍ کې د دولت د مرستې لپاره ، یوناما ښه موقعیت لري. د دې سربیره ، یونامابه خپلې قانوني او تخنیکي مشورې او د دولت د مسوولو چارواکو د لارښونې لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړي تر څو د اوبو پر سر شخړې ، په ړنه او عادلانه توګه حل کړای شي.

# پــــاڼــــې

1 د ملګرو ملتونو سازمان د خوراک او کرنې اداره ، په مرکزي آسيا کې د اوبو لګولو شميرې ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، ۲۰۱۳ ، ۸۷ پاڼه ("ايف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲") په دغه ويبپاڼه کې پېږ وګورئ: http://www.fao.org/docrep/018/i3289e/i3289e.pdf

2 د اوبو لګولو وزارت ، د اوبو او چاپيريال سرچينې ، د اوبو د سکتور لپاره ستراتيژيک تګلارې چوکاټ ، د مې مياشت ۲۰۰۴ ، ۲ پاڼه ("۲۰۰۴ د ستراتيژيک تګلارې چوکاټ") په دغه ويبپاڼه کې بې وګورئ: http://www.cawater-info.net/afghanistan/pdf/aswf.pdf

3 ريچارډ غياثي او نور ، د افغانستان خصوصي سکتور ، موقعيت و تر مخ لارې ، اکتوبر ۲۰۱۵ ، ۲,۴,۱ برخه (غياثي ، د افغانستان خصوصي سکتور) په دغه ويبپاڼه کې بې وګورئ: https://www.sipri.org/sites/default/files/2016-04/SIPRI_Afghanistans-Private-Sector_Report-2015.pdf

4 ايف اې او اکواستات سروې

5 غياثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، ۲,۴,۱ برخه ؛ دا هم وګورئ: په وچو سيمو کې د کرنې د څېړنې نړيوال مرکز ، په افغانستان کې د اوبو او د خاورو د اړتياوو ارزونه ، سپتمبر ۲۰۰۲ ، ۹ پاڼه ("د اورښت د مقدار او د فصل اوږدالي او ارتفاع تر منځ ټينګه اړيکه") او ۵۵پاڼه (" له دې کبله چې د هيواد په هغو سيمو کې چې د خاورې او توپوګرافي له پلوه د کرنې لپاره وړ دي ، باران لږ کيږي او ډير بدلون مومي ، يوازې څو سيمې داسې دي چې باراني فصلونه د معيشت لپاره د اعتبار وړ يوه بنسټ دی. ") ("آی سي اې آر دي اې د اړتياوو ارزونه") په دغه ويبپاڼه کې بې وګورئ: http://afghanag.ucdavis.edu/natural-resource-management/soil-topics/soil-manuals/Rep_Needs_Acess_Soil_Water_ICARDA.pdf.

6 ايف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، ۹۵پاڼه ، ۳ انځور

7 همدغه مأخذ ، ۱۰۳پاڼه ؛ آی سي اې آر دي اې د اړتياوو ارزونه ، ۱۸عبارت

8 ايف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، ۱۰۳ پاڼه ، غياثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، ۲,۴,۱برخه

9 آی سي اې آر دي اې د اړتياوو ارزونه ۳۵پاڼه

10 ايف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، ۸۷پاڼه

11 همدغه مأخذ

12 ان پې پې ۱ ، ۲۳پاڼه

13 ۲۰۰۴ د ستراتيژيک تګلارې چوکاټ ، پاڼه ۲

14 ايف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پاڼه ۸۷ (د دې اټکل چې په ۲۰۱۱ کې د افغانستان د کليوالي نفوس ۷۷ سلنه وه چې د ۱۹۹۹ په پرتله ، له ۸۰ سلنې څخه راټيټ شوی دی.) ؛ آی سي اې آر دي اې د اړتياوو ارزونه ، عبارت ۱ (د دې اټکل چې د افغانستان ۷۵ سلنه نفوس په کليوالي سيمو کې ژوند کوي.)

15 آی سي اې آر دي اې د اړتياوو ارزونه ، عبارت ۱

16 ايف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پاڼه ۸۷

17 غياثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، برخه ۲,۴,۱

18 ايف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پاڼه ۸۷ ، دا هم وګورئ ، ان پې پې ۱ ، پاڼه ۲۳ (د دې اټکل چې مشروع کړنه ، د هيواد د ناخالص کورني توليد ۳۲ سلنه جوړوي).

19 کرنه ، ارزښت ډېر شوی (د ناخالص کورني توليد فيصدي) د نړيوال بانک د ملي حسابونو اطلاعات ، او او اي سي دي د ملي حسابونو د اطلاعاتو فايلونه ، ۲۰۱۴. په دغه ويبپاڼه کې بې وګورئ: http://data.worldbank.org/indicator/NV.AGR.TOTL.ZS

20 غياثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، برخه ۲,۴,۱

21 ايف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پاڼه ۸۷ ، ("د څو لسيزو جنګ ، د اوبولګولو او د اوبو د تامين ډيری نظامونه له منځه وړي دي ، چې په کرنيز اقتصاد کې حياتي رول لري. په وروستيو کلونو کې ، د وچکاليو له امله ، دغه وضعيت لا پيچلی شوی دی. ") ان پې پې ۱ پاڼه ۳۵

22 ان پې پې ۱ پاڼه ۳۵ ، غياثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، برخه ۲,۴,۱

23 آی سي اې آر دي اې د اړتياوو ارزونه ، عبارت ۹ (د دې منل چې د اوبو کموالی او د ټيټ کيفيت زيربناوې ، په کرنيز سکتور کې د اقتصاد ودې د لارې خنډ دي.)

24 وينسنت توماس او نور ، له پولو اخوا د اوبو د سرچينو پرمختيا: د افغانستان ، ايران او پاکستان تر منځ څه لرليدونه بايد موجودي وي؟ مې ۲۰۱۶ ، پاڼه ۵ ("توماس ،له پولو اخوا د اوبو د سرچينو پرمختيا") په دغه ويبپاڼه کې بې وګورئ: *http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/ 1607E%20Developing%20transboundary%20water%20resources.pdf;*

غياثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، ۲,۴,۱ برخه ، دا هم وګورئ: آی سي اې آر دي اې د اړتياوو ارزونه ، عبارت ۹(" د اورښت د مقدار او د فصل اوږدالي او ارتفاع تر منځ ټينګه اړيکه ") او ۵۵ پاڼه ("چې د هيواد په هغو سيمو کې چې د خاورې او توپوګرافي له پلوه د کرنې لپاره وړ دي ، باران لږ کيږي او ډير بدلون مومي ، يوازې څو سيمې داسې دي چې باراني فصلونه د معيشت لپاره د اعتبار وړ يوه بنسټ دی. ")

25ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پانه ۸۵

26د افغانستان د پرمختیا ملي تګلاره ، د اوبو د سرچینې مدیریت ، د اوبو د سکتور تګلاره ، فبروری ۲۰۰۸ ، پانه ۱ ("د اوبو د سکتور تګلاره ۲۰۰۸")، په دغه ویبپانه کې یې وګورئ:

http://moec.gov.af/ Content/files/Water%20Sector%20Strategy%20-%20English.pdf

27غیاثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، برخه ۲,۴,۱ ، دا هم وګورئ: د خوراک او کرنې نړیوال سازمان او د نړیوال بانک اطلاعات (په ۲۰۱۴ کې د نړۍ په هغو هیوادونو کې چیرې چې په ډېر لږ مقدار باران کیږي ، د افغانستان درجه بندي په نولسمې درجه کې)، په دغه ویبپانه کې یې وګورئ: http://data.worldbank.org/indicator/AG.LND.PRCP.MM.

28ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پانه ۹۵ ، شکل ۳

29همدغه مأخذ

30همدغه مأخذ ، پانه ۱۰۳ آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، عبارت ۱۸

31ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پانه ۱۰۳ ؛ آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، عبارت ۱۸

32همدغه مأخذ

33ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پانه ۱۰۳

34 ۲۰۰۸د اوبو د سکتور تګلاره ، پاڼې ۲۴-۲۵

35آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، عبارت ۱۸ ، سره له دې چې د دغه راپور له محدودې ځخه بهر دی ، د ځمکې لاندې د اوبو په سرچینو کې کمښت ، نه یوازې اوبو لګول بلکه د څښاک اوبه هم له ګواښ سره مخامخ کوي ، په ځانګړې توګه په داسې حال کې چې ډېری خلک ، د ځمکې لاندې له اوبو څخه د اصلي سرچینې ، او تر ډیره ، د څښاک د اوبو د یوازینۍ سرچینې په توګه کارول کیږي. " ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پانه ۱۰۳

36همدغه مأخذ وګورئ ، پانه ۱۰۳ ، غیاثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، برخه ۲,۴,۱

37آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، پانه ۱۵ ، ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پانه ۸۷ (دې ته په اشاره چې په افغانستان کې د کرنیزې پرمختیا لپاره د اوبو لګول نظام ډېر مهم دی).

38آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، پانه ۱۸. د افغانستان د پاتې ۱۵ سلنه کرنیز محصولات باراني دي. همدغه مأخذ.

39همدغه مأخذ

40همدغه مأخذ په ۱۵ او ۱۸ پاڼو کې

41همدغه مأخذ ۱۸ پانه

42د یوناما د قانون د حاکمیت د څانګې ساحوي مشاهده

43د اوبو قانون ، نشر شوي د عدلیې وزارت په ۹۸۰ شمېر رسمي جریده ، د اپریل ۲۶ ، ۲۰۰۹ ، ۲۳ (۲) او ۳۴(۱) مادې ("د اوبو قانون ۲۰۰۹")؛ آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، عبارت ۱۱ ؛ ۲۰۰۸ د اوبو د سکتور تګلاره ، پانه ۱۲.

44آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، پانه ۳۵ ، ۲۰۰۸ د اوبو د سکتور تګلاره پانه ۱۲.

45آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، پانه ۵۲ ، ۲۰۰۸ د اوبو د سکتور تګلاره پانه ۱۲.

46آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، پانه ۳۵

47همدغه مأخذ په ۱۵ پانه ؛ د سیلابي اوبو لګولو شبکه ، په افغانستان کې سیلابي اوبه لګونه ، پانه ۱ ، په دغه ویبپانه کې یې وګورئ: http://www.spate-irrigation.org/wordpress/wp-content/uploads/OP10_SI_Afghanistan_SF.pdf.

48وګورئ ، د ستراتیژیک تګلارې چوکاټ ۲۰۰۴ ، پانه ۲ (د دې اټکل چې ۹۰ سلنه اوبه لګونه په دودیزو وسیلو او یوازې ۱۰ سلنه په رسمي وسیلو لکه د اوبو لګولو سترو پروژو په ذریعه ترسره کیږي.)

49آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، ۱۵ او ۳۵ پاڼې ؛ ۲۰۰۸ د اوبو د سکتور تګلاره ، پانه ۱۲.

50آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، عبارت ۱۱ ؛ ۲۰۰۸ د اوبو د سکتور تګلاره پانه ۱۲

51آی سي اې آر دي اې د اړتیاوو ارزونه ، پانه ۳۵

52همدغه مأخذ وګورئ په ۱۱ عبارت کې

53همدغه مأخذ وګورئ ۳۵ پانه کې

54همدغه مأخذ وګورئ ۹ عبارت کې او ۳۵ پانه ("د لیږد د سیستم اغیزمنتوب له خپل اصلي ظرفیت څخه ۸۰ سلنه راټیټ شوی دی ")

55 ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پانه ۹۴

56ان پي پي ۱ ، پانه ۴۱

57همدغه مأخذ

58همدغه مأخذ.

59وګورئ: نړیوال بانک ، اوبه ، د کندهار ولایت ځمکو ته نوی ژوند ورکړ. ۲۰ جولای ۲۰۱۶ ، په دغه ویبپاڼه کې یې وګورئ:

http://www.worldbank.org/en/news/feature/2016/07/20/water-brings-life-to-farmlands-in-kandahar-province

60 کابل ټایمز ، د کجکي بند د افغانستان په اقتصادي ودې کې مرسته کوي ، 4 اکتوبر 2016 ، دغه ویبپاڼه کې یې وګورئ

http://thekabultimes.gov.af/index.php/opinions/economic/12002-kajaki-dam-helps-afghanistan%E2% 80%99s -economic-growth.html.

61 د ۲۰۰۸ اوبو د سکتور تګلاره پاڼه ۲۴

62همدغه مأخذ

63ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، ۹۳-۹۴ پاڼې ؛ آی سي اې آر دي اې د ارتباوو ارزونه ، پاڼه ۱۴ (د دې اټکل چې د پمپ شویو اوبو ۹۹ سلنه د اوبو لګولو لپاره کارول شوې.)

64ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پاڼه ۸۷ ، دا هم وګورئ ، ان پي پي ۱ ، پاڼه ۲۳ (د دې اټکل چې مشروع کرنه ، د هیواد د کورنی ناخالص تولید ۳۲ سلنه جوړوي.)

65۲۰۰۴ ، ، د ستراتیژیک تګلارې چوکاټ ، پاڼه ۲ ، دا هم وګورئ ، ان پي پي ۱ ، پاڼه ۲۳.

66۲۰۰۸ د ستراتیژیک تګلارې چوکاټ ، پاڼه ۳

67ان پي پي ۱ ، پاڼه ۴۱

68د افغانستان اساسي قانون ، ۱۴ ماده

69همدغه مأخذ

70مدني قانون ، ۲۳۴۷ ماده

71همدغه مأخذ ، ۲۳۴۶ او ۲۳۴۷ مادې

72همدغه مأخذ ، ۲۳۴۹ ماده

73همدغه مأخذ ، ۲۳۵۳ماده

74همدغه مأخذ ، ۲۳۴۸ ماده

75همدغه مأخذ ، ۲۳۵۲ ماده

76همدغه مأخذ ، ۲۳۵۰ ماده

77همدغه مأخذ ، ۲۳۵۱ ماده

78د اوبو قانون ، ۱ماده

79همدغه مأخذ

80همدغه مأخذ ، ۲ او ۸(۱) مادې

81همدغه مأخذ ، ۶ماده

82همدغه مأخذ

83همدغه مأخذ ، ۷ ماده

84همدغه مأخذ

85همدغه مأخذ ، ۲۸ ماده

86همدغه مأخذ ، ۲ و ۸ مادې

87همدغه مأخذ ، ۸(۲) او (۱۰) او ۱۰ ، ۱۱ مادې

88همدغه مأخذ ، ۹ ماده

89د افغانستان لپاره د چاپیریال او ټولنیز مدیریت چوکاټ ، په کرنیزه سیمه کې د اوبو د پروژې مدیریت ، نومبر ۲۰۱۰ ، پاڼه ۱۰ ("اي اس ام اف اې په کرنیزه سیمه کې د اوبو د پروژې مدیریت ") په دغه ویبپاڼه کې یې وګورئ: http://www-wds.worldbank.org/external/default/WDSContentServer/WDSP/IB/2010/11/16/000334955_20101116014820/Rendered/PDF/E25860EA0P12031Framework1appraisal.pdf

دا هم وګورئ: ۲۰۰۹ د اوبو قانون ، ۴ او ۱۲ مادې (د اوبو د سرچینو د مدیریت او پرمختیا هراړخیزه تګلاره)

90اي اس ام اف اي په کرنیزه سیمه کې د اوبو د مدیریت پروژه ، پانه ۱۰

91همدغه مأخذ ، په ۱۰ و ۱۱پانو کې

۲۰۰۹92 د اوبو قانون ، ۱۲ تر ۱۴مادې

93همدغه مأخذ ۱۴ماده

94همدغه مأخذ ۱۷ ماده

95همدغه مأخذ ۱۷(۲) ماده

96همدغه مأخذ ۱۴(۸) او (۱۰) او ۱۷(۲) مادې

97ای اس ام اف ای په کرنیزه سیمه کې د اوبو د مدیریت پروژه ، پانه ۱۱

۲۰۰۹98 د اوبو قانون ماده ۳(۸)

99اي اس ام اف اي په کرنیزه سیمه کې د اوبو د مدیریت پروژه ، پانه ۱۱

100 همدغه مأخذ

101 همدغه مأخذ

۲۰۰۹102 ، د اوبو قانون ، ۱۹ ماده

103همدغه مأخذ ۱۹(۴) او ۲۰مادې

104همدغه مأخذ ۳(۵) او ۲۱(۲) مادې

105همدغه مأخذ ۳(۶) او ۲۱(۲) مادې

106همدغه مأخذ ۲۱ ماده

107همدغه مأخذ ۱۵(۱) ماده

108همدغه مأخذ ۱۵(۲) او (۳)مادې

109همدغه مأخذ ۳۵(۱) او (۵)مادې

110همدغه مأخذ ۳۵ ماده

111همدغه مأخذ ۳۴ ماده

112وګورئ: وینسنت توماس ، په افغانستان کې د حقابو د شخړو د حل بهیرونه ، د سرپل سیندیزې حوزې قضیه ، دسمبر ۲۰۱۳ ، پانه ۱۱۵ ("د حقابو د شخړو د حل بهیرونه ") په دغه ویبپانه کې یې وګورئ: .http://www.areu.org.af/ Uploads/EditionPdfs/Water%20and%20Conflict.pdf

113 ۲۰۰۹ ، د اوبو قانون ، ۳۴(۱) ماده

114همدغه مأخذ ، ۲۰۰۹ د اوبو قانون ، ۳۴(۲) ماده

115همدغه مأخذ ، ۱۶ او ۳۴(۳) مادې: په هغو سیمو کې چې د سیندیزې حوزې شورا او یا د سیندیزې حوزې فرعي شورا نه وي جوړه شوې ، له اوبو د ګټې اخیستنې پر سر شخړې ، د اړوندې سیندیزې حوزې مقام ته ، او د اوبو لګولو د شبکو پر سر شخړې ، د اوبو د مدیریت ادارې ته راجع کیږي. همدغه مأخذ ۳۴(۷) ماده

116همدغه مأخذ ۱۶ او ۳۴(۴) مادې

117همدغه مأخذ ۱۶ او ۳۴(۶) مادې

118همدغه مأخذ ۱۶ ماده

119همدغه مأخذ ۳۴(۵) ماده

120همدغه مأخذ

121همدغه مأخذ ۱۶ او ۳۴(۵) مادې

122همدغه مأخذ

123همدغه مأخذ ۱۶ او ۳۴(۶) مادې

124همدغه مأخذ ۱۶ماده

125 همدغه مأخذ ۱ او ۸(۸) مادې

---

126 حامد خان ، د اسلامي قانون په اړه د تمرين کونکو لارښود ، د قانون د حاکميت د ترويج نړيواله شبکه ، د ۲۰۱۳ کال جولای ، ۸۷ پانه ("خان ، د اسلامي قانون په اړه د تمرين کونکو لارښود ")، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: http://inprol.org/sites/default/files/publications/2013/islamic_law_guide-july_2013_final_0.pdf.

127 آی ډي. په ۸۸ پانه موجود دی (د ميلاني اندرو ميکا سيويک څخه ذکر ، د اسرايلو او عربو د اوبو د عنعنوي قانون يو جامع تحليل او د اوبو د پرمختللو شريکولو د ترونونو لپاره لرليدونه ،د نړيوال قانون د ډينور ژورنال ، د ۲۶ پاليسي ۴۳۹ پانه ، ۱۹۹۸ کال).

128 همدغه مآخذ

129 همدغه مآخذ

130 توماس بارفيلډ ، افغان عنعنوي قانون او د رسمي قضايي ادارو سره د هغه اړيکي ، د متحده ايالتونو د سولې انستيتيوت ، د ۲۰۰۳ کال جون ، ۲۰ پانه ("بارفيلډ ، افغان عنعنوي قانون" ) په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: http://www.usip.org/sites/default/files/file/barfield2.pdf.

131 خان ، د اسلامي قانون په اړه د تمرين کونکو لارښود ، ۸۸ پانه ، (د چيبلي ملات ذکر ، د اوبو د کارولو د اصولو لپاره لټون : په منځني ختيځ کې د شريعت او عنعنو په هکله غبرګونونه ، ۱۹۹۵ ، مخونه ۱۲۹، ۱۲۷-۱۳۰)

132 همدغه مآخذ

133 همدغه مآخذ

134 د ۲۰۰۹ کال د اوبو قانون ، اوله ماده

135 د مولانا عبدالرحمن جامي ترونونه(۱۴۱۴-۱۴۹۲) په هرات ولايت کې د خړوبوني د اوبو د ويش او د اوبو د اختصاص په اړه لارښودونه برابروي.("د اوبو د حق ابه تقسيمات ، په تحت اللفطي ډول د اوبو د تقسيم په توکه ژباړل شوي ")

136همدغه مآخذ

137 د افغانستان د څيړنې او تحليل مرکز ، د خړوبوني د نا برابريو بررسي ، د هرات ولايت د انجيل په ولسوالۍ کې د کانال د خړوبوني سيستمونه ، ۲۰۰۹ کال ، ۲۰ پانه ، ("د افغانستان د څيړنې او تحليل مرکز ، ۲۰۰۹ کال ، د هرات د خړوبوني سروې " )، په دې پته د لاسرسي وړ ده:

http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/914E-Irrigation%20Inequities-CS-print.pdf.pdf

138 بار فيلډ ، افغان عنعنوي قانون ، ۴۲ پانه

139 همدغه مآخذ

140 همدغه مآخذ

141همدغه مآخذ

142 د اوبو د حقونو پر سر د افغانستان او کاونديو هيوادونو تر منځ د پولو څخه د باندې بهرنې شخړې هم اندېښنې را پاروي خو دا اندېښنې د دې راپور د اندازې او وسعت څخه د باندې دي. د پولو څخه د باندې د يو شمير دغو بهرنيو شخړو د ماهيت د وروستي څيړنې لپاره د توماس- ليکنه چې سرليک يې د اوبو د ترانس بونډرې سرچينو انکشاف دی ، وګورئ.

143 ايف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پانه ۸۷

144 بارفيلډ ، افغان عنعنوي قانون ، ۲۰ پانه ،(د ځدراڼ څخه اقتباس ، ۱۹۷۸: ۳۰۹)

145 ساحوي راټول شوی معلومات د ننګرهار ولايت د حصار شاهي د راستنيدونکو د کمپ څخه.

146 د ولسمشر ۱۴۰۵ شميره فرمان ، ۱۶ د مى ۲۰۰۹

147له بيلابيلو ولايتونو څخه د يوناما د قانون د حاکميت د ځانګي راپورونه

148ل وګورئ ايف ای او ، د کرنيزو اوبو مديريت او د د کرنيزو اوبو اړتياوی ، ۱۹۸۶ ، ۲ فصل ، ۳ جدول ، په لاندېنۍ ويبسايټ کښې:

http://www.fao.org/docrep/s2022e/s2022e00.htm

149 د کاپيسا ولايت د نجراب ولسوالۍ په اړه د يوناما د قانون د حاکميت د ځانګي راپور

150له بيلابيلو ولايتونو څخه د يوناما د قانون د حاکميت د ځانګي راپورونه

151 همدغه مآخذ

152 د بغلان ولايت په اړه د يوناما د قانون د حاکميت د ځانګي راپور

153 ټول مبصرين پر دغې ارزونې سره متفق دي. وګورئ: آی سي اې آر ډي اې د اړتياوو ارزونه ، پانه ۱۶ ، (په عمل کې مشاهده ، اوبه ، د ځايي دود او د کروندګرو تر منځ د هوکړې پر بسنټ د ميراب له خوا ويشل کيږي. هه کلي ، يوه ميرآب لري چې د طرحې بيلابيلو سيمو ته د اوبو ويش واک ، خپل مرستيال ته سپاري. ".) غياثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، فصل ۲,۶ ، کنه ۱۳۰ (په کليوالي سيمو کې ، ملکيت ، ځمکه او د اوبو لګولو حقوق ، د شخړې عادي سرچينې دي چې د جرګو له خوا او يا په دوديز منځګړتوب حل کيږي ".)

154وګورئ: بارفیلډ ، د افغانستان دودیز قانون ، پاڼه ۲۰

155وګورئ: ۲۰۰۹ ، د اوبو قانون ، ماده ۱۴(۵)

156 د ننګرهار سیندیزې حوزې د فرعي شورا سره د یوناما د قانون د حاکمیت د څانګې مرکه

157د افغانستان د آوټلوک ورځپاڼه ، د کاونډیو هیوادونو له خوا د افغانستان د اوبو له سرچینو څخه ګټه اخیستنه ، د ۲۰۱۵ د سپتمبر ۱۷. دغه ویبپاڼه کې یې وګورئ:

http://outlookafghanistan.net/national_detail.php?post_id=13110

158 توماس ، د اوبو د حقوق او د شخړو د حل بهیرونه ، پاڼه ۱۱۵

159د اوبو قانون ، ۱ او ۶ ماده

160 مدني قانون. ۱۹۱۱ ماده

161د اوبو قانون ، ۶ ماده

162 توماس ، د اوبو د حقوق او د شخړو د حل بهیرونه ، پاڼه ۱۱۵

163 همدغه مآخذ

164 همدغه مآخذ

165همدغه مآخذ

166غیاثي ، د افغانستان خصوصي سکتور ، ۲,۶برخه

167همدغه مآخذ

168همدغه مآخذ ، برخه ۲,۶ ، پاڼه ۱۲۹ (د دوارو څېړنو په استناد سره)

169همدغه مآخذ ، برخه ۲,۶

170 ، ۲۰۰۸د اوبو د سکتور تګلاره پاڼه ۱۲

171همدغه مآخذ

172همدغه مآخذ

173همدغه مآخذ

174 دا هم وګورئ: ای آر ای یو ۲۰۰۹ ، د هرات د اوبو لکولو سروې ، ۲۸-۲۹ پاڼې

175ایف اې او ، اکوا ستات سروې ۲۰۱۲ ، پاڼه ۸۷

176برخه: ۵ (الف) پورتني

177همدغه مآخذ

178برخه : ۳ (ب) ، پورتني

179برخه : ۵ (الف) پورتني

180 برخه : ۳ (ب ، ۲ ، ج ، د) پورتني

181 برخه: ۳ (د) پورتني